Mar. 7, 1957

14

کابل

د۱۳۳۶ ش کال دعقرب (۱۵)۱۳۷۷ق کال
دربیع الثانی (۱۴)د۱۹۵۱ع کال دنومبر ۷

پەدی گڼەکښی:

د ړندوخط - دژبی پیدایښت او... - شهیدان - غزل
دغم خبر - ای مظلومی - ظالم رواج
عسی ان... - داکتوبر انقلاب
تاریخ په ځوډ وله ...
دجبران اثر کتاب
ولولیء

8 - FEB 56
Copy 1958

پر لەپسی گیه ٤٤٤

له «بنی میرام» ترکی اخبار څخه

ښه راغلی

ددا کتر حلقی عامل کیمن له خواه چه: د مولینا بلخی لمسی دی.

زمونږ د دوست او ورور اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د افغانستان د ټولواک راتک ترکیې او مخصوصاً قوینی ته ددې ځای د ټولو خلکو د خوشالۍ سبب دی او پدې وباړی، چه د داسی مقتدر ټولواک او عالی قدر میلمه په لید نه کتنه سرلوړی شوه، د قونیې خلک دا مبارکه ورځ په ډېره خوښۍ او د ژورو احساساتو په ښکارولو د جشن او خوښۍ په ورځ بدلوی.

بلخ چه د اعلیحضرت همایونی اصلی وطن دی، د مولانا محمد جلال الدین رومی غوندی لویان او بزرګان پاللی او تربیه کړی دی چه نه یوا ځی ترکیه او قونیه بلکه ټوله دنیائې پرلویۍ او بزرګۍ شهادت ورکوی.

مولانا د بلخ په ښار کښې زېږدلی او په قونیه کښې ابدی جهان ته ورزساتل شوی دی په دې توګه د افغانستان او ترکیې په منځ کښې له بخوا وختونه د دوستۍ د تار رشته، له همدې رابطې او پیوستګۍ نه ددې دواړو ساهو مملکتونو په منځ کښې خوږه او کلکه وروری چه هېڅ ډول خلل نه قبلوی پیدا شوی ده.

د اعلیحضرت ټولواک محمد ظاهر شاه ملاقات او لید ینې کتنې چه د مولانا سره ئې سیمه شریکه ده د همدې تاریخی خصوصیت په سبب د دغو دواړو ملتونو وروری سره ټینګوی.

د مولانا ښار ته د اعلیحضرت د تشریف راوړلو په مناسبت ښه راغلی وایم.

چه د خلکو د افتخار او سرلوړۍ باعث دی، له لوی خدای نه د افغانستان د دوست او نجیب ملت د سلامتۍ او سعادت هیله څرګندوم.

(۲۷ گال)

(۱۵) گڼه

کابل

پنځلس ورځنی مصوره

اجتماعی ، ادبی ، او تاریخی مجله

د امتیاز خاوند: پښتو ټولنه

د پښتو ټولنی مشر: گل پاچا «الفت»

مسئول مدیر م، د، «ژواك»

پته: کابل نادر پښتون واټ دیل خشتی دیله مقابل د تیلفون لمبر (...)

دحضرت مولینا بلخی تلین

دعقرب پر(۷) دبین الملل په فرهنګي موسسه(یونسکو) کښی په عام ډول سره داسلامی نړۍ دستر شخصیت او په خاص ډول دپښتنی دنیاد معنوی او علمی مقام لوی مشر حضرت مولینا جلال الدین بلخی تلین نیولی شوی و، حضرت مولینا دام البلاد (بلخ) هغه زوی و، چه دقال په مجال ئی دحال دپټ راز وړانګي دتولی خاورینی کړي و هر کوټ ته رسولی وي او د ځان لیدلو دپاره ئی دهرچا دستر کو څخه دځان پټیدلو ګرد اوغبار لری کړی و.

حضرت مولینا وهرچا ته دخپل علامه شاګرد (اقبال) په ژبه داډول توصیه کوله:

ای زخود پوشیده خودرا باز یاب — در مسلمانی حرام این حجاب

بندهٔ حق وارث پیغمبران — او نه گنجد در جهان دیگران

دحضرت مولینا جهان دهرچا په لاس جوړ کړی جهان و مګر دفراق او نفاق جهان نه و.

ځکه ده به ویل:

ملت عاشق زملت ها جدا ست — عاشقان را ملت ومذهب خدا ست

حضرت مولینا دخدای (ج) دتجلیاتو فیضان دهرچا نصیبه بلله اودلته دلیری والی او نژدیوالی فرق ته نه ؤقابل ځکه ویل به ئی:

دورو نزدیکی ندارد آفتاب — آفتابا هر کجا خواهی بتاب

څرنګه چه د حضرت بلخی جهان دخپل فصل سره وصل درلود او په وصل کښی فصل یا داچه ده دخود شناسۍ سره خودبینی او په خود بینۍ کښی دخود شناسۍ ورد دجهان دبی دردو ددرد درمان باله او به وجود کښی ئی موجود مرادو خودبه دجهان د فهم ستر ګی دده خوانه کښیږی او په یادبه ئی دمو جودیت بنیاد بنابولی.

حضرت مولینا (دام البلاد) دښارونو دمور هغه ښاغلی زوی و چه وروسته له ډیرو قرنونو دده یاد دوحدت الوجودۍ په څپاندو نیزونو کښی خپل موجونه په ډیره تندۍ وهی او دجهان ښاغلی ئی دموج هرڅاڅکی دژوند آب حیات ګڼی.

ژواك

وروسته له القابو :

السلام علیکم ورحمة الله

دفرصت په وخت کښې مې یوه مقاله ولوسته متعجب شوم نو مې ترجمه کړه چه که د کابل مجلې خوښه شو له درج به یې کړی لکن پخوا تر دی چه ترجمه در نقل کړم لږ تمهید په کار دی .

دوربان

دا پارسی کلمه نه ده (لکه دربان او بادبان (بلکه دیوه ښار نوم دی په جنوبی افریقا کښې، چه هلته مولانا شاه حافظ محمد فضل وحمن الانصاری القادری دیوه مسلمان آبادی معتبر او بیدار سړی ترحمایت لاندی یوه ښایسته بلند معیاره مجله په انګریزی ژبه د مسلم دایجست Muslim Digest میاشت په میاشت چاپیږی د دی مجلې (رمضان شماره کښې یو مجارستانی مستشرق چه (پروفیسر ډاکتر عبدالکریم جولیوس جرمانوس) نومیږی او د بوډاپست دښار دی یوه مستنده مقاله ورکړی ده د (مسلم دایجست) مدیر یا سرمحرر (محمد مکی) هر کال در مضان شماره په ډیر آب وتاب شایع کوی د پروسږ کال رمضان شماره باندی یی دوه زره پونډه صرف کړی دی یوا ځی ظاهری ښایست نه لری بلکه د لوړ معیاره لیکوالو داسی مطالب ئی پکښې تر بحث لاندی نیولی دی چه لوستل یی خوراخوند کوی.

مګر زمونږ په وطن کښې دا نومونه دیوه سړی تر غوږ شوی هم نه دی .

دشا مخو غرو سرو کښې
یاژور ولوی مندو کښې
نابی کړی ځنګلو کښې
ناطی کړی بیابانو کښې
څه ګلو نه غوړیدلی
څه غوټی دی مسیدلی
چه نه ما نه تالیدلی
نه بوی کړی دی یو ځلی!

یووار بخوا می د (جانا) مجله چه د آسیا افریقا مطالبو د پاره د سیلون له جزیری څخه نشر یده نمونه د راستولی وه اوس د دی مجلې څخه یوه مقاله ترجمه کوم او د راستوم یی که څه هم لږ شی دی خو بیا هم څه نه څه یادول دی عبدالهادی «داوی»

دړند و د پاره خط

اول مسلمانانو اختراع کړی دی: د قاهری ازهر (شریف) مشهور مسجد کښې ډیر شیان شته چه سړی په حیرت کښې اچوی یو د هغو څخه د «ړندو طلبه و ډیره» ده دا طلبه شفاهی یا شفوی تعلیم او د خپل لامسی د قوت پذریعه د خپلو هغو خورا بختورو ورونو سره مقابله کوی چه د بصارت څخه نه دی محروم دا سلام تاریخ کښې داسی ممتاز او مشهور ممثلین د علم (ساینس) او ادب (لټریچر)

په وفرت د سره موجود دی چه د بینا ستر گو له نعمته محروم او د دوی د ژوندون او د چارو معلومات په یوه خاصه طریقه مونږ بهره مند کړی یو.

د هجرت په دریمه پېړۍ کښې ابن قتیبه (رح) په خپل (کتاب المعارف) کښې د متعدد و مشهور واو ممتاز ړندو ذکر کوی او ابن الجوزی (رح) چه د تاریخ په مختلفو څانګو باندی بی کتابونه لیکلی دی (په شپږمه پېړۍ کښې) علی ابن البنا او نورو مولفینو (رح) دیو عظیم تعداد مسلمان ړندو د اقتدار څخه چه د قدرت یو فوق العاده مظهر دی سخت متأثر شوی دی.

تر ټولو ممتاز کتاب په دی باب کښې د «صافدی» (رح) دی چه په هجری اتمه پېړۍ کښې پورته شوی دی.

نحت الهمیان فی نحت العمیان یعنی د ړندو د اعجوباتو په باب د همیانۍ خالی کول.

دا کتاب عالم فاضل احمد زکی پاشا (مرحوم) په قابلیت سره مدون (ایډټ) کړی دی دا فوق العاده اثر علاوه پر عظیم مقدار د فیلولوجیک (لسانیاتو) مسائلو څخه چه عربی مولفینو باندی د بر گران دی (قریباً د دری سوو مشهور ړندو اشخاصو په سوانح او حیات باندی لیکنی او یاد داشتونه لری د اسوانح بیانات په ظریفانه نکتو او بذله سنج ټوکو مرصع شوی دی چه د شرقی مسلمان حکمت او دانایی ښیی او د ثقافتی تاریخ د لیکوالو د پاره ذیقیمته منبع گرزیدای شی.

دا بیانات د ړندو پر حقوقی یا قانونی حیثیت باندی هم څیړنی لری که هغه د یوی محکمی په مخ کښې وی یا د شریعت په نظر کښې.

د دی کتاب په هغه فصلو او بابو کښې چه اخلاقی قصص او امثال بیانیږی مونږ ډیری داسی قصی هم پیدا کوو چه له نورو قدیمه اقوامو څخه عربو ته نقل شوی دی. او د هغو افراد و مدایحو باندی قصیدی هم راوړی چه د زړه د فایدو د پاره (د روښانتیا د پاره) د ستر گو له نعمت څخه محروم شوی دی.

د عربی لوی شاعر بشار ابن برد (په دو همه هجری پېړۍ کښې) چه یو تیز مستهزی و، یو واریو مبرم سړی د هغه څخه په گستاخۍ او بی نزاکتۍ سره پوښتنه وکړه.

«ته لا فی وهی چه خدای (ج) ړندو ته د ستر گو په عوض کښې نوری قواوی او فایدی بخښلی دی تا ته ئې څه در کړی دی؟»

قهرشوی شاعر جواب ور کړ :-

«دا نعمت بی را کړی دی چه ستاغو ندی
بی حیا ودیده دراخلقو مخ ونه وینم .»

دخلیفه (المهدی) په حضور کښی یو وارده یو
ډیر مقبول نظم پیادوو ایه دخلیفه له اقرباوو
څخه یو سړی چه شاعر ته نزدی ولاړو، کنجکاوانه
پوښتنه وکړه چه ته څه کسب وکمال لری؟

شاعر دستی جواب ور کړ چه:

«زه خورا باریکی مرغلری سوری کوم»

خلیفه ډیر په زوره وخندل لیکن بیا یی
دشاهانه تنبیه په طور ورته وویل چه: تا ډیر
کلك جواب ور کړ، شاعرو ویل چه :
یا امیرالمومنین ادغسی بیهوده سوال لره ماڅه
جواب ور کړی وای حالانکه ده وارویدل چه
ما پوره قصیده ستاسی حضور کښی له یاده
وویله .

یوه بله عقلمنده لطیفه دې کتاب کښی
داسی راغلیده:

په شپه کښی دیوه ړانده په لاس کښی
یو څراغ و، او یو چینی ظرف یی پر سرو ،
یو مسافر سړی ورته وویل چه حافظه !
تا ته چه شپه او ورځ یو راز ده نو ته څراغ څه
کوی؟ ړانده جواب ور کړ:-
دی دپاره چه تاغو ندی خلق چه زړونه یی ړانده
دی پرماونه نښلی او زما چینی را مات نه کړی.

که داسی عقل زیاتوونکی لطیفی شمیرم
نو، مثنوی هفتاد من کاغذ شود ،

بی حسابه اشعار چه نهایت نازك او نفیس
او عمده والی یی تربیان پورته دی ړندو
شاعرانو انشاد کړی دی لکه: نوی پیسی مسټ
(دبدبینې فلسفی طرفدار) ابوالعلاء المعری
او زمونږ معاصر متفنن (طه حسین) چه که مادی
بصارت یی ضایع شوی دی د دوی نادر
عقل او ذکاوت یی تلافی او تعویض کوی .

دا ندلس شاعر میر سا مید (دا شبیلې
او سید ونکی) د یوی ړندی ښایستی نجلۍ
دائمی پټی سترگی په څنگه مقبولو تشبیهاتو
سره ستایلی دی :

لڅی توری څه عجب که
غوڅول کا
عجب دا دی چه په نیکی کښی
وژل کا

(دحضرت ابن الفارض یو شعرهم په دی
مضمون زما په یاد شو، څونه پوره توارد دی:

کل السیوف قواطع ان جردت
وسیف الخظك قاطع فی غمده. «مترجم»

صافدی مونږ ته د دری سوو ړندو
مشاهیرو روایت کوی چه پدی ړندو کښی
بعضو ته فوق العاده قوت حافظه ور عطا
شوی وه یو مصری ړوند چه احمد بهنسی نومیده
دیوی جمعې په ورځ د منبر پایی ته نزدی
کښیناست پس له لمانځه یې هغه اوږده خطبه
چه خطیب وویله خپلو دوستانو ته سر تر پایه
په یاد مکرره کړه چه یو لفظ هم نه و، ځنی پاته.
په دی ړندو کښې فلاسفه حکما، ملحدین فقها،
قضات، محاسبین، معماران حتی دنادرو خوشخطو

قطعو تولوونکی هم شته چه (صافدی) په جامعانه طرز باندی شمیر لی دی، لکن تر دی تولوز یات عجب د ړندو د استعداد هغه اظهوره (فینامی نان) ده چه د «ړندو دپاره خط» په اختراع پوری تعلق لری. داخط په لمس وایه کیده او د مسلم ضیاء الدین العامدی اختراع وه، عامدی په اوومه هجری پیړۍ کښې د عامد په کلی کښې چه د (دیار بکر) یوه منطقه ده، (دیار بکر په عراق کښې کاین دی) تولد شوی دی.

عامدی په کوچینوالی بصارت بایلود. نوده دخپلو باطنی قواوو د ترقۍ دپاره خپل عقل و فکر متوجه کړ، دفقه او خارجی ژبو زده کړه یی خوښه وه او د تکمیل دپاره ئې د بغداد جامعی (یونیورستي) ته چه (مستنصریه) نومیده ورغی.

ترکی، یونانی، پارسی، او مغولی ژبی یی هلته زده کړې.

په فوق الذکر کتاب کښی یې راوړی دی:

مغولی امپراطور (غازان) چه اوله پلا بغداد ته راغی (غازان بغداد په سنه ۱۲۹۵ ع نیولی دی) د العامدی په فوق العاده قابلیتو کښی یې دلچسپی پیدا کړه او په سبب ددی چه غازان نوی اسلام راوړی و، شوق یی درلود چه العامدی او دده استادان (په جامعه کښې د مستنصری) و از مو یی یو عظیم احتفال نیولی شوی و، اشراف شیوخ او فحول د علماوو ددی معظمه الدهر مدرسی په یولوی تالار کښی تول جمع شوی وو او د شهنشاه د راتګ انتظار یی درلود.

د شاهنشاه د کورنۍ افراد «شهزادګان» د دبدبی او حشم سره یو یو را تلل د تالار ګڼو میلمنو هر یوه ته د تعظیم او عزت علامات اظهار کول، دوی ویل چه دا به شاهنشاه وی مګر عامدی به صرف یو کورنش وکړ او که چا به دده څخه بعضې پوښتنی کولی ده به خپل جواب مودبانه ور کړ او بس.

په آخر کښی یو سړی تالار ته را ننؤت چه معمولی کالی یې اغوستی ؤ هر چا خیال کاوه چه یو پیش خدمت دی دده وجود ته په مشکل سره د چاپام کیده لکن په مجرد ددی چه دې سړی د عامدی سره مصافحه وکړه عامدی په ډیر احترام سره دده لاس مچ کړل د دی لاس نهایت پوستوالی او مردانه قوت عامدی پوه کړ چه دا د شهنشاه لاس دی په رښتیا سره دا د امپراطور غازان لاس و.

العامدی یوه یوه استقبالیه، د جشنو وړ خطابه د غازان په مخ کښی په مغولی ترکی، پارسی او عربی ژبو و ویله او د مدرسی شیوخ ئې غازان ته معرفی کړل.

امپراطور ددی شاز و نادر قوت فهم څخه ډیر حیران او متأثر شو او یوه ذیقیمته جوغه یی عامدی ته و بخښله.

ضیاء الدین العامدی د کتابو جمع کولو شوقی و. دی پوهیده چه فلانی کتاب په

کومه الماری یا اطاق کښی چیری پروت دی او هر کتاب چه یی غوښت دهغه ځای څخه ئی اخستای شوای ، دی دهر کتاب په اصلی قیمت باندې په مشخص صورت سره پوهیده ، او ددی دپاره چه کوم رقم یی هیر نه شی ده دځان دپاره یو رسم الخط اختراع کړی و ، چه په لمس سره وایه کیده او په گوته دامجهول معلومیده ، نو په دغه صورت ده د (والن سین های او برابل) څخه پیش دستی و کړه او پیش قدم شو ، چه هغو خپل رسم الخط دړندو دپاره په سنه ۱۷۸۷ او ۱۸۳۷ عیسوی کښی (علی الترتیب) چاپ کړل دضیاء الدین العامدی طریقه داسی وه :

ده به یو نازك کاغذ په گوتو کښی داسی وپیچه چه دالفبا حروفو عوض شی ، دا به ئی بیا د کتاب دوقایی پردننه خواسرینې کړ او ددی دپاره چه د وقایی فشار دا کاغذ کښینه کاږی یوه قطعه دپنډ کاغذ به یی پرمخ باندی دوقایی دصفحی و نښلوله .

مونږ دضیاء الدین العامدی نوم (اول مخترع دخط دړندو دپاره) چه منفعت ئی ټولو انسانانو ته رسولی او د مسلمانانو دعلم یوه شریفه نمونه دی په احترام سره یاد وو

داوه د پروفیسر عبد الکریم جولیوس جرمانوس مقاله چه ما په احتیاط سره ترجمه کړه پر دی باندی بالفعله نه وقت لرم او نه ضروری کتابونه را څخه شته چه ددی مقالی دمرتبانو خطاء گانی په تدقیق سره تصحیح کړم چه په نومو کښی ئی کړیدی او نه څه ډیر زیاتول او تذییل کول په کار دی خو دونه وایم چه دا ډیر تعداد دمشاهیرو ړندو چه هر یوه ښه کمالات درلودل ، له ورا ښکاره کوی چه پخوانیو مسلمانانو دخپلو ړندو تعلیم و تربیت له کوچنیوالی څخه کاوه په هره طریقه چه و ، او لکه اوس چه خپل سر ته یی پریږدی په دی خیال چه (داوړو کی دی یا ړوند دی یا گونډ دی یا گنگ امکان د تعلیم او ترقی یی نشته) داسی نه و ، بلکه په تفکر او ډیره اعتنا او غمخواری سره به ئی دړانده یاد ړندي کمال داره کیدو ته توجه کوله .

باید صافدی هم په دعا او احترام یاد کړو چه دهغه مقصد هم ددومره زیاتو ړندو مشاهیرو د احوال له جمع کولو څخه غالبا دغه و ، چه د مسلمانانو توجه دی خوا ته واړوی چه دخپلو زیردستانو او معیوبو اولادو دپاره مصارف او اعتنا وکړی .

د کتاب دنامه څخه ئی هم معلومیږی چه خپله همیانی ئی دعمیانو (ړندو) دخدمت او یاد ولو دپاره تشه کړی ده او مونږ ته یی تعلیم را کړی دی چه دړندو سترگی که نه وی نوری قواوی ئی فوق العاده ترقی کولای شی .

زه وایم چه که معیوبه خلق دخپلو باطنی او روحانی قواؤ تقویی او ترقی ته متوجه شی ممکنه ده چه فوق العاده نتایج وښندی ولی چه ددوی تزکیه او تصفیه به تر نورو آسانه وی .

«مترجم»

ښاغلی حبیب الله تبزی

د ژبی پیدا ایښت او تکامل

څرنګه چه د مقالې د عنوان څخه دورا یه ښکاری زما برغه له آره د ژبې د پیدا ایښت او تکامل او د دغه کار د څرنګوالی څېړل دی مګر د دې د پاره چه خبره لږ څه پخه وی نو لومړی د مځکی پر پیدا ایښت او تکوین بیا د ژوندی سلول پر پیدا ایښت او ورپسې د دغه سلول پر تکامل او د انسان پر پیدا ایښت خبرې کوم. ځکه ژبه د دغو ټولو پر له پسې تکاملونو نتیجه ده چه مونږ ورباندی خبری کوو.

«تبزی»

دغه مځکه چه مونږ ورباندې میشت یوو د لومړی سر نه په همدې ننني بڼه نه وه، بلکه دې بڼې ته راتک، پیدا ایښت او تکوین یې داسې یو نقل دی چه سړی هک پک ورته پاته شی.

وایی چه یوم مهال لمر مځکه او هغه نور ستوری او سپوږمۍ چه زمونږ د شمسی نظام په نامه یا دیږی په فضا او یا هغې سیمه کښی چه هابل سر یې نه دی ښکاره، دوریځې د یوه ځلانده سوځوونکی غونډاسکی په څېر سره یو ځای و، مهال تېر شو او په تېرېدو یې د دغه ځلانده غونډاسکی څخه ځینی کوچنۍ کوچنۍ ټوټی والوتې او د مځکې ستوری یا سپوږمۍ په نامه په ځانته ځانته لری والی ګرځندې ور څخه پاته شوې مګر دغه د مرکزی غونډاسکی څخه د نوموړو ټوټو الوتل هم ځانته حکایت او په بېلو بېلو بڼو ویل شوی دی. مثلاً څوک وایی چه لومړنی غونډاسکی او یا زمونږ د شمسی نظام مجموعی کتله په فضا کښی پخپل محور ډېره په سرعت سره څرخېده، تر څو چه یې ورو ورو د همدې څرخېدو او سړېدو په سبب د څنډو څخه ځینې د کړیو په څېر ټوټی شاوخوا والوتې او یوه له دغو ټوټو څخه مځکه وه (۱) مګر څوک بیا وائی چه یه زمونږ شمسی منظومه په لومړی سر کښې یو ستر څرخنده ستوری ؤ چه د کوم بل ستوری د ورنژدی کېدو په واسطه ځینې ټوټی د عمل او عکس العمل په ډول ور څخه والوتې او یوه له دغو ټوټو څخه د مځکی په نامه یاده شوه (۲) دادی دلته د همدې ټوټی یعنی مځکې د تکوین په برخه کښې خپله قصه اوږده و.

---

(۱) دا فرضیه په ۱۷۱۶ کښې د یوه ستر فرانسوی پوه «لاپلاس» Laplas له خوا وړاندی شوه.

(۲) دا فرضیه «د توماس چمبرلن» له خوا وړاندی او د ډېرو نورو پوهانو له خوا هم تائید شوې ده.

سره له دې چه له لومړنۍ کتلې یعنې لمر څخه د مځکې د ټوټې د الوتلو دڅرنګوالی په برخه کښې فرضیات متفاوت دی مګر داچه ځمکه دیوه سوځند ځلاند مرکزی غونډاسکی څخه جلا شوې اوبیا په ورو ورو سره دې نننۍ بڼې ته راغلی ده، دټولوطبیعی پوهانوله خوایود منلو وړ او ښکاره حقیقت ګڼل شوی دی. ځکه په دې برخه کښې دلائل ډېر زیات اودو مره قوی دی چه دشك ځای سړی ته نه پرېږدی. خوڅرنګه چه دغه دلائل زمونږدافسانې سره څه ډېره زیاته اړه نه لری. نوله دې کبله ورڅخه تېرېږو او داقصه رااخلوچه ځمکه دخپلې لومړنۍ بڼې نه څنګه دې نننۍ بڼې ته راغله، او انسان څنګه ور باندې پیدا شو؟

دا افسانه اروپائی پوهان داسی لیکی:

کله چه ځمکه دمرکزی غونډاسکی څخه جلا شوه نو داوردیوه سوځنداوځلانده غونډاری په څېر په فضاء کښې څرخنده پاته شوه. څو مره چه څرخېده هو مره سړېده، ترڅو چه وروسته دزښت ډېرمهال څخه یوسوړ ډبرین پرخ ور باندې پیدا شو. دا پرخ دهغو پر له پسې بارانونو په واسطه چه ور باندې وورېدل وسولید او په هغو خوړونو او یا ډبرینو چاودونو کښې چه د دوك اوایرو څخه ډك و دخړې په څیر کښېناست، دا مهال مځکې خپل نننۍ زور او قوت نه لاره. کومې او به چه ئې اوس دمځکې پر مخ د بحرونو او سیدونو په ډول وینو واړه دوریځو په توګه په فضا کښې ګرځېدې. د مځکې مخ د لمر څخه پټ و. اما وروسته له څه مودې مځکې خپله توله برابره کړه او دغه بخار ئې دخپلې جاذبه قوی په واسطه ځانته راکش کړ. کومې کندې چه دمځکې په خاتیځه او لوېدیځه خوا کښې جوړې شوې وې ددغواوبو څخه ډکې شوې، بحرونه ور څخه جوړ شول او د مځکې ډېره زیاته برخه ئې لاندې کړه.

فضا څه نه څه رونړه شوه. لمر په غلا غلا سره دوریځو دمینځ څخه د مځکې مخ ته وکتل او په وېره وېره ئې د خپلې مینې پلوشې په مخ ورو غورځولې، مځکې هم دبړق خنداو کړه اودیوې مهربانی شهۍ په څېر ئې خپله غېږ ورته وپرانسته دامهال ؤ چه دمځکې دمخ تودوخی هم ورو ورو کمه شوه، اولومړنی ژوندی سلول دا وبو دڅپو سره یوه او بله خوا وښورېد. اما داچه دغه سلول د کومه شو؟ په دې برخه کښې هم د مځکې دپیدا ښت په څېر نظریات مختلف دی، داسی چه څوك وائی دغه سلول د کوم لستوری څخه راغی او څوك وائی چه پخپله په مځکه کښې ددغه سلول

لومړنی مواد او دهغه دتشکل استعداد موجود و ، نو څنګه چه زمینه ورته برابره شوه دهم ژوندانه ته ځان برابر کړ .

دتو دوخی درجه ئوره هم تیټه شوه او نژدی اتیا درجو ته راورسېده . کوم شرائط چه دیوه ژوندی جسم دژوندانه دپاره حتمی دی ورو ورو برابر شول . هغه ژوندی سلول چه داوبو په څپو کښې و خوځېد په ملیونو ملیونو کلونو داوبو په خوښه یوه خوا او بله خوا وګرځېد، تر څو چه داوبو تو دوخی پنځه او یا درجو ته راورسېده او دژوندانه دوره شروع شوه .

کوم سلول چه یې دژوندانه دوره وپرانستله داوبو په منځ کښې میشت اوله یوې خوانه بلې خوا ته په تپاك ؤ په لوبو، لوبوئې ځان د سمندر څنډو ته ورورساو . دا ځای ئې خوښ شوا و خپلې پښې ئې د لومړنیو ریښو په څېر په خټه کښې وخرلې .

ځان ئې خپل واك کړ او دډېر ساده شنیلی په څېر ئې دخپل واك ژوند شروع کړ .

ځینی له دغو سلولونو څخه لا هم په اوبو کښې یوه بله خوا ګرځیدل تر څو ئې چه داړ خونو څخه دریښو په څېر جړی او ګډې وډې څانګې دلاس یا پښو په توګه خپرې کړې . خو څرنګه چه تغییر د طبیعت خاصه او دتکامل وسیله ده ، نو دغه ژوندی جسم هم په داخپله بڼه ثابت پاته نه شو . بلکه ورو ورو د تغییر او تکامل پرلورو خوځید . په ملیونو کلونو ئې لاروو هله تر څو چه د چنجیانو او بیا دماهیانو بڼې ته ورورسید ، پوست ئې پرېړ او تن ئې څه نه څه غټ شو . دومره چه وروسته د څه مودې نه سمندر د بې شماره کبانو کور شو . څومره چه مهال تېرېده همدومره دد وی تخم هم دتناسل او تکاثر په واسطه زیاتېده چه ددغه کار سره تکامل هم طبیعی او څنګ په څنګو، ځکه داضداد و مبارزه هم دهم هغې ورځې نه جاری او روانه وه .

نباتات یا هغه لومړنی ژوندی موجودات چه ئې خپلی ریښی دسمندر په غاړه کښی څه موده پخوا خښې کړې ، ورو ورو ، و تو کېدل او د سمندر د غاړې څخه دمداوجزر په واسطه وچې اوجلګو ته ووتل . ونې پیدا شوې ، بوتی شنه شول ، ګلان ئې وکړل ، ورژېدل ، تخم ئې وکړ اوله یوه ځایه بل ځای ته یو وړل شول ، په دې ډول ونې او بوتی خپاره شول او د مځکې ډېرې زیاتې برخې ئې زرغونې کړی .

دونواو بوتوسره کبان هم په همدی ډول داو بوڅخه وچې ته ووتل او یوډول نور حیوانات مینځ ته راغلل چه هم یې په وچه کښی ژوند کولای شو او هم په او بو کښې، نو له دی کبله دغه ډله حیوانات دذوحیاتین په نامه یاد شول چه نننۍ چو نګښی یی ډیره ښه نمو نه ده کله چه دغه ډله حیوانات مینځ ته راغلل او دمځکی پرمخ په وچه کښی میشت شول نو یی دی ته اړه پیدا کړه چه خپل ژوندهم په وچه باندی تامین کړی. همداؤ چه په سینه باندی وڅښیدل او دخپل خوراك دپیدا کولو دپاره دیوه ځایه بل ځای ته ولاړل. دوی هم ورځ په ورځ غټ شول، دومره چه ئی تنه لس او پنځلس مترونو ته ورسیده.

داډله حیوانات په کتابونو کښی دایکتیوزوروس Icuthyosaurus مګالوزوروس Megalosaurus او، برونتوزوروس Buantosaures په نامه یاد شوی دی چه مونږ ئی نن واړه بیندی بولو (۱) ځینی ځینی له دغو بیندو څخه دپاڼو یامیوو دخوړلو دپاره له مځکی نه ونو ته ور و بهیدل ور پور ته شول او په ونو کښی ئی خپل ژوند ته ادامه ورکړه. دیوی څانګی څخه ئی بلی ته هڅه وکړه او پښې ئی کلکې کلکی په څانګو کښی و نښلولی مګر بیا هم داکار ګران ؤ او دیوی ونی یا څانګی څخه بلې ونې یا څانګې ته په ښه توګه نه شو تللای.

ترڅوئی په پښو کښی منګولې او دمنګولو ترمنځ پردی ښکاره شوی، پردی هم داړتیا له مخې پراخی او په پای کښی په وزرونو بدلې شوې. لکۍ خپل رنګ بدل کړاو په یوه ځانته ډول جوړښت ئې په الوتلو کښی مرسته وکړه مرغان پیدا شول او دیوی ونې څخه یی بلی ته په الوتلو پیل وکړ.

کومی له دغو بیندو څخه چه په ځمکه پاته شوې دیوه مجهول علت په واسطه چه ښائی ډیر غټوالی او له تګ نه پاته کېدل به ؤ له مینځه ولاړی او مځکه ور څخه بیغمه شوه.

وروسته له بیندو څخه دخلکو خبره دمځکې پاچائی یوډول نوروحیوانا تو ته ور ورسیده چه دوی هم له آره دبیندو له زبیرې (اخلاف) څخه و، خو څرنګه چه ئی غولانځی لرلی نوئی مونږ غلانځو رساکښې بولو او انسان هم له همدې کورنۍ څخه تر ټولو نه متکامل یا معقول حیوان دی.

البته داچه انسان څرنګه له خپلی او مړنۍ بڼی یعنی سلول نه دی نننۍ بڼی ته رارسیدلی دی؟ ددی پوښتنی ځواب دبیلوجی دارتقا نظریه ورکوی چه دلومړۍ پلادپاره د «چارلس داروین» له خوا په عملې توګه سره وړاندی شوې او بیا دنورو پوهانو له خوا

(۱) څرنګه چه یی واړه په سینه باندی بهیدل نو یی بیندی بولو.

پوره څېړل شوي او منل ده (۱)

ددې نظر ئې داثبات لاری دپوهانو په نظر دادی:

لومړی دفوسیل (Fossil) علم.

په دې لاره کښې دمخکې دمخ دبېلو بېلو دورو ،دحیواناتو نمونې دډېرو پر مخ کوری اووروسته له مطالعې څخه خپل دلایل وربانديې بنا کوی .

دوهم دجنین علم (Embryolagy) دالاره دجنین مطالعې لاره ده چه د پوه جنین او یکی او ورته والی دبل سره ښکاره کوی اودنو موروپوهانو دنظریې دثبات سبب کیږی.

دریم دهډېندی علم (Anotomy) چه دحیواناتو او نقابه وروروسره (تدریجی) څر کندوی.

وښیی ،نزدی ده چه خپل نقل راڅخه یاته شی او په اصطلاح فلسفی ته ورننوځم خبره خوداوه چه موویل: دغو لانځورو ساکښوپه کورنۍ کښې ترټولو متکامل ساکښ انسان دی .

انسانانو دنوروساکښوپه څیر دطبیعت سره په څه لږه برخه اکتفاونه کړه بلکه دخپل ځان اودخپل بچی دژوندانه دساتنې دپاره ئې د پره هڅه وکړه دیخنۍ او گرمۍ سره ئې جګړه جوړه کړه .څپړی اوخزې ئې ودانې کړې ،افزارونه ئې جوړ کړل اوپښکاراونولیدئې شروع وکړه، نوئې له ډې کبله فرانکلن افزار جوړوونکی ساکښ هم بولی. اما دا نوم انسان هغه وخت وگانه چه د نوروساکښوپه څیرئې په څلوری تګ ونه مانه بلکه دار تیاله مخې ئې هڅه وکړه چه خپلې مخنۍ پښې یالاسونه دځمکې څخه بورته کړی اوپه دوو، وروستیو پښو باندې په ابتدائی بڼه گام واخلی .وخوځید اووروسته دزښت دبرمشق اوتمرین څخه او چته په وروستیو پښوروان شوله پوه ځایه بل ځای ته ولاړ اوناتوبی ئې جوړ کړ البته دا کارهم دمتکامل مغز دمحصول یعنی «تفکر» نتیجه ده، ځکه یوازې انسان دی چه مو نږ ئې معقول او دلوړ طرز تفکرخاوند بولو.

څه موده لانه وه تیره چه انسان دخپل زیات احتیاج له مخې افهام تفهیم دپاره ژبه وموندله اواشرف المخلوقات ترې جوړ شو .

او انسان ته ئې د ناطق حیوان نوم ورو باخښه دا دافهام وتفهیم وسیله نن داصطلاح له مخې «ژبه» بلل کیږی اوزما برغه هم له آره دهمدغې ژبې دپیدا ښت د موضوع دڅرنګوالی څیړل وچه ښاغلی لوستونکی به ئې په دابله ګڼه کښې ولولی .

---

(۱) Gharl،s Daruin په ۱۸۰۹ کښې په انګلستان کښې وزیږیده په پنځوس کلنۍ یعنی (۱۸۵۹) کښې یې خپل مشهوراثر «انواعومنشأ» Qrigin of Specier خپور کړ اوددارونیسم بنیادیې پکښې کښېښودد عمر تر پایه چه (۷۳) کاله وه، په عملی تالیفاتو اودخپلې نظریې په تثبیت بوخت وُ ترڅوچه په ۱۸۸۲ کښې مړ شو.

شهیدان

-۲-

اثر: ښاغلی منفلوطی

مترجم: ښاغلی تهذیب

په تیره ګڼه کښې ددی افسانې
هغه لنډیز چه نشر شوی دی

ښوزلی کونډی (مور) دزوی دروزنی په غم ستړی روځی او شپې تیری کړې او دخپل وروره په مرسته ئې زوی رسام کړ. هلك رسام شو، مګر ماما ئی دتصادفی پېښې په اثر دمال اوجایداد نه خلاصیږی اودبدبختۍ په اثر ځان ورکوی. هلك درسامۍ په فن کښې دښه لاس لرلو په وجه په امریکا کښې لویه جایزه اخلی اومور سره مالی مرسته کوی خو پخپله دورك ماما پته اخلی دی هم دتور پوستو په ګیر ورځی او په یوه تور غار کښې ئې اچوی هلك یاد کونډی زوی اوس دزنګیانو په لاس کښې ګیر او په تور غار کښې چه دانتقام دبندیخانی په نامه مشهور دی شپې روځی تیر وی.

او ښکی

په خوارې او ضعیفی موردا څو وم کال تیر یږی چه نه دځلمی زوی مخ وینی او نه ئی له مړینې اوژوندنه خبر یږی هیڅوك نشته چه دیته دځوی احوال ووائی او یائې دراتلو زیری ورکړی.

ددی سیمې لاروهونکی هره ورځ د لوئی لاری پخوا کښې یوه کړو په سپین سرې بوډۍ چه دغم او ګورم علامی ئې په لمدو ستر ګو اووچو شونډو کښې ښکاریږی او یوه جګه لکړه ئې هم پلاس کښې ریږدی، ولاړه وینی دغم وژلې مور په ډنګر او بی سیکه وجود یوزوړ پوړنی ځوړند دی چه دډیری زمانې دتیر یدلو په سبب ئې لمن تر ځنګنو خوړلې شوې او لستونی ئې پر څنګلو ولاړ دی.

کری ورځ دمعبدونو او کلیسا ګانو پدروازو کښې دریږی او دخدای درحم تمنا کوی، خو کله چه لوږه هم پری زورو کړی نو دیوې وچې ګولې غوښتلو ته ئې هم اړه کړی.

څولمرسو که دافق شا ته پریوزی، هله نوروز ګاروهلې مور په معینه او مخصوصه لاره، دبحر غاړی ته ځی هلته په یوه جګه ډبره کښینی او دبې پایه پلی او آرام بحر له څپو اوشګو د شرین زوی پته غواړی او بیا دوه له اوښکو ډکې ستر ګې دبحر هغه ډېر لرې افق ته نیسی او په هغه کښې لکه منجم چه خپل ستوری تعقیبوی خپل پردیس زوی لټوی کله چه دنسیم کومه وږمه وچلیږی نو دیته دزوی بوی و رپیاد کړی او کله چه کوم مست تا پو په منډه، منډه ددی مخې ته راشی نو ګمان کوی چه ددی دځوی به څه حال ووائی، کله چه له ورایه کومه بیړۍ داو بو پر سطحه ووینی نو ئې پوره یقین داوی چه ددی مسافر به پکښې راغلی وی، دواړه

ستر گي دبيړۍ زينو ته نيسي او تر هغه په
کړو په ملا او ريږ نده ځان د ريږ ي څو
دبيړۍ واړه سپاره را کوزشي او دا پکښې خپل
مقصودو نه مومي، پدائي لاهم زړه نه صبر يږي،
دخلکو په لار کښې دريږي، هر مخ او څټ ته
ځير، ځير، گوري، کله چه په ډيرو کتلو
او دخلکو په شاوخوا گرزيدلو ستړي کيږي
نو دمايوسۍ له زوره دزوي نوم اخلي او په
سوو کريکو کښې دعشق او محبت په ساده ژبه
وائي: اي دخداي بختورو بند گانو! څوك
به زما زوي راوښي !؟ او يا به ئې څوك زما
ددي چاودلي زړه لپاره دنړۍ په لري او پټو
کنجونو کښې وغواړي ؟ ډېره موده کيږي
راڅخه ورك دي، دده له ور کيدو و ر و سته
سپينه ورځ را باندي توره شپه ده، نه ئې موندلي
شم او نه مي ليوني زړه تري صبر يږي نواي
ښو خلکو! دا يو ښه کار و گڼيء او را ته
ووايا ست، ايا لتاسي سره دي هم راغي؟ او که
لتاسي څخه جلا شو او په بل جهاز کښې
راځي؟ او که بيخي له دنيا تللي دي چه نور ئې
درا تگ څه اميد نشته!..

مگر هيچا ددې نارو ته غوږ نه ټپاوه، او
نه پوهيدل چه څه وائي، يوه نيم سړي چه به
ورته توجه و کړه، نو به ئې گمان داشو چه
پيريانۍ، يا ليونۍ ده او زړه به ئې پري وسو
او يا به ئې داخيال شو چه فقيره اوسا ئله ده،
نو به ئې څه صدقه ور کړه، زماني رټلي مور به
دشپې تر ډېره وخته پدې شان دبحر پغاړه
سر گردانه وه، څو به ئې و ليده چه ټولې
ميندې، خويندې، پيغلې، او مير مينې، له
خپلو زامنو، ورڼو، پلرونو، او دوستانو سره
دخپلو کورونو خواته روان شول، او دبحر
پرمزدحمه غاړه بيله دې بل کوم تلونکي يا
راتلونکي ندي پاته، هله به ئې خپله لکړه
راواخسته او دستړي وجود ځبلي او ټوك ټوك اعضأ
به ئې ترخپلي جونگړي راوڅښول او هلته
به دهغه قبر ترڅنگه چه پخپلو لاسو ئې د کور
په غولي کښې کيندلي او پخپل تصور ئې د گران
زوي مدفن جوړ کړي و، کښيناسته او په
سوې او پټه ژړا کښې به ئې ويل: اي زما
ځلمه زويه! نه پوهيږم، د آسمان له ستورو
څخه به د کوم ستوري لاندي حلال کړي
شوي ئې، او دځمکي په کومه کنده کښې به
غور ځول شوي ئې؟؟!

دبحرونو په کومه ژوره کښې دي ځاي
نيولي او که د کوم وحشي او ظالم حيوان په
کلمو کښې پروت ئې؟

که چيري ته هغه غټ مرغه چه ستا جوته
ئې به مشو که څير له، يا هغه خوړونکي ځناور
چه ستا وينې ئې څښلي، يا هغه قبر چه ته ئې
پخپله غيږ کښې کلك نيولي ئې يا هغه بحر
چه ته ئې خپلې گيډي ته کش کړي ئې،
خبر شوي او پوهيدلي واي چه يوه ډېره خوار ه
بي اسري، او ضعيفه مور تل پتا پسي ژاړي،
نو پرتا به ئې رحم کړي واي، او زما دزړه لپاره
به ئې سلامت پري ايښي واي !!!...

ای زما پر دیسه ځویه! بس دی نور سفر ترك کړه، په ثروت او هستۍ پسی مه گر ځه که فقیر او بینوائي! که شل او ړوندئي او که.. زما خوا ته راشه، ځکه ما ته هغه یوه دخدای پامانی خوله چه دځنکدن په وخت ئي ستاله مخه اخلم کافی ده.

راشه څوله تا داعهد واخلم چه په هر لمر خاته او هر لمر لو یده. زما دقبر پر څنډه ودریږي او هغو تورو خاورو ته چه زما پر سر کوته دی ځیر، ځیر و گورې، څو دی په راتلو دقبر تنگسه هیره کړم، او دښایسته مخ په رڼادي زما دتور گو رتیا ره ماته شی.

هغه میندی چه دخپلو اولادو څخه دژوندانه، لاره ژر سر ته رسوی څو مره نیکبختی او مسعودي دی، اما څو مره بد بختی میندي دی چه پدي منډه کښي تر او لاد شاته پاته شی، خو تر تولو سخته بدبختی او بده برخه دهغي بد نصیبي مورده چه گړۍ په گړۍ د مرگ ځو ړته ور کوزیږی، او دالانه بو هیږی چه شیرین ځوی ئي تر ځان مخته کړی او که شاته دی!!

و بر ځبلی مو رسبا، ماښام په ورك ځوی پسی دیعقوب ژړا کوله څو ئی دغبر گو ستر گو کسی هم له تودو او ترخوا وښکو سره دخیشته گریوان په کوتونو کښي وڅڅیدل، خولائی هم دخپل یوسف له یادوزړه نه صبر یده!!

یوه شپه په داسی وخت کښي چه د قبیلی نور زنگیان، نوی په خوب تللی وو او هغه ددوی ورځنی وحشیانه شور ما شور دیوی هیبتناکي چپتیا په ژوره کښي نری، نری، او ریدل کیده، بندیوان ورخلاص کړ او د ځلمی خوا ته ورتیر شو، دده ددرانه ځنځیر کړۍ ئي مضبوطه و نیوله، او هغه کلك میخونه ئي چه شاوخوا په دیوالو کښي تکوهل شوی و، راوایستل، په پټه خوله ئي ځلمی ددروازی خوا ته راوڅښاوه، څو ئی دباندي راوایست، ځلمی خاموش و، حتی په زړه کښي ئي هم له ځان سره کوم سوال اوجواب نه درلود. ده دا فکر هم نکاوه چه دامي دخلاصون دپاره بیائی او که دمرگ ډگرته؟ دوه ستر گي ئي دبندیوان تور څټ ته نیولی وي، څو ئي د کلی په منځ کښي دیوي پلنې اوجگی ډبرې سر ته وخیژ اوه او دځنځیره کړۍ ئی دلوئی تیږی په اطراف کښی په مخصو صو میخو نو پوری کلکی کړي او پرې ئي ښود.

ځلمی یوازی پاته شو. مگر دهری شپی دیوازی توب په شان نه! ستر گي ئی پرانستلي بل مکان. بله منظره، بل آسمان، بله ځمکه ئی ولیدله - تښتیدلی شعور ئی سو که سو که، بیرته راتولیده، څو ښه راو یښ شو، او پرخپل پخوانی او اوسنی حالت ئی فکر وکړ سعادت او بدبختی وطن او پردیسی، زندان او دهغه تیاره، قیدونه او په شپوور ځو دریدل، !! داواړه ور په زړه شوه، او بیائی حیرت وهلی خیال په هواو الوت، له پلنو بحرونو څخه و او ښت...

مور او دهغې تورې ورځې ، پده پسې دهغې کوکې او نارې ، دهغې یاس او ناامیدۍ ، داټول ئې ولیدل او وائې وریدل ستر گه ئې ډکه شوه ، دائې اولنی څاڅکی و ، چه دمصائبو له لاسه ئې له ستر گی را ورغړید خوېدې څاڅکی پسې هومره نور څاڅکی راتوئې شول چه ځلمی ورسره ترسمی شپې سلگۍ ووهلی اوس نود قبیلې په فضاء کښې یو دروند سکوت حکومت کوی ، ټول زنگیان پخوب تللی دی ځلمی سر دځنگانه په ستر گه ولگاوه ، او په یوه ژور خیال کښې ډوب شو.

دخیال په ژوره کښې دځلمی ستر گوته نری خوب راغلی ؤ ، چه په خپلو اوږو ئې د یو چا لاس سو که حس کړ ، سر ئې پورته کړ ، یوه سپینه آشیائی ځانته مخامخ ولاړه ولیدله ، ځلمی دحیرت په چپتیا کښې وړ ، وړ ، فکرونه کول. کله به ئې په لیونی زړه کښې گرزیدل چه شاید د بد بختۍ دوره موپوره شوی ، او دا آسمانې پرښته ده چه نور می لدې رنځه خلاصوی ، او کله به ئې هم نوری اندیښنی په زړه کښې ښکته ، پورته ، کیدلی ، خوچه ښه ورته ځیر شو گوری چه یوه سپین نژادې او دحسن له دولته هم پوره و دانه پیغله ده !!

په سپین مخ کښې ئې نری سور و الی داسی پر کیفه دی لکه دلمر تیزه وړ انگه چه دسپینو وریځو له شاقرمزی غوړنجه کوی ، ځلمی دلږ څه تأمله پس پو ښتنه وکړه.

ته څوك ئې ؟ دی وویل :

زه ددی قبیلی یوه پیغله یم ، او ستا په سختو او بدوور ځو خبره یم زړه می ستا په پحال وسوزید ، غواړم چه تالدی سختیو ـ خلاص کړم او دا کلکی او درنی کړۍ دې له پښو او غاړې وباسم څوو کولی شی چه په دا شپه ځان ددې قبیلې له سیمی وباسی او بیا آزادانه کومه لارچه غواری ونیسی ! ځکه زما داعقیده ده ، په هغه لویه ورځ چه دبندگانو داعمالو حساب کیږی د لوی خدای په مخ کښې هیڅ شی دمظلومانو دلاس نیوی په اندازه ارزښت او اجر نلری !!! .

دځلمی په مغزو کښې دحیرت او تعجب انقلاب جوړو ، ځکه ده په زنگیانو کښې سپینه پیغله ، په بت پرستانو کښې الهی پرسته ، او په وحشی او بربری طائفه کښې دمهربان او عطوف زړه خاونده لیدله !!

دځلمی زړه دښکلی پیغلی عشق وما نه او د دی حسن ته ئې د تسلیم سر ټیټ کړ یوه گړۍ په پټه او گنگه خوله ددې دمخ په پلو ښو کښې کوز او پاس ولاړ ، او بیائی ورته وویل : باداري ! لاړه شه زه نه غواړم چه لدې بنده وتښتم ، !

مگر داو پوهیدله چه د ځملی دا وینا دناامیدۍ له غلبې او دمأیوسۍ په هجوم کښې ده نولږ وردمخه شوه اولاس ئې دده پر اوږه کیښود ، او وئې ویل : ځوانه ! نور یأس او ناامیدۍ ته اجازه مه ور کوه چه ستا دپاك زړه فضاء خپه او تیاره کړی. ځان پخپله رضاء مرگ ته مه سپاره ! زه ښه پوهیږم چه

ستا او مرگ ترمنځ بیله دا نن شپې بله کومه فاصله نشته .

ځوانه! زه خبره یم چه که ته د نن شپې دالبز پاته برخه هم دلته تیره کړی، نو سبا به دی دروغ وجود بڅری د تیرو تورو په څوکو شاو خوا الوزی، د وی ته د همدی کار لپاره را ئیستلی ئی، نومه خپل ځان دې ناورین ته سپاره، ارمه ددی مسکینې پیغلې چه بیله کومه مقصده مازی ستاد خلاصون لپاره ستا په مخ کښې ولاړه ده، په زړه داغ لګوه! ځکه دیته داسخته ښکاریږی چه څه ګړی بعد دی یادیوی عاجزې ذبیحی پڅیر د کوم زنګی تر چړی لاندی، او یادی په تودووینو ددرنده ګانو خولې سرې او ککړې وو ینی!

ځلمی: یه، یه، ته ما نشی خلاصولی -

پیغله: زه بیله دی چه تا خلاص کړم د کوم بل شی لپاره نه یم راغلی!

ځلمی: یوه ګړی دمخه زما د آمالو په ساحه کښې فقط یوه آرزووه، مګر اوس دوه آرزو ګانې زما ژوند تأمینوی!! هو ته به زما اولنی ارزو پوره کړې خودا بله چه زما زړه ورپوری ځوړند دی، ته نه شی پوره کولی!...

پیغله د آرزو مند ځلمی له پټه ارمانه په یوه غمجن فکر کښې ولاړه او پداسی حال کښې چه ده ته نژدی مخا مخ ولاړه وه دوه سترګې ئې د آسمان په پراخه ګیډه کښې په یوه لری پور تنی نقطی پوری و ګنډلې او څه ګړی خاموشه او بی حرکته پرخپل ځای ودریدله، ځلمی ددی ترمخ ناست و، سرئې پورته کړ او دوه سترګی ئې ددې دمخ په ښکلا کښې ولاړې، یوه ګړی د مغه ماهر مصور بشان چه دخپل جوړ کړی تصویر په تماشه کښې له حاله تللی وی، د دی ترمخ پرځای وچ پاته و.

ناڅاپه داوښکو یو تود څاڅکی د پیغلی له بڼو راخطا او د ځلمی پرمخ ونښت!!

بیاسو که، سو که، دده داو ښکو په مجرا دزنی خواته راوبهید،!!

یو بل غټ څاڅکی هم دده له بڼو راوښوئید او په منډه ئې دهغه بل تعقیب وکړ. څو دواړه یو په بل کښې مزج او فنا شول.

دی تماشی ته دواړه حیران شول.

بیا ځلمی لاس ددی ټکری ته وراوږد کړ، او په کراره ئې ځانته راکش کړه او ورته وئې ویل: باداری! ډیره ودریدلې، راځه یوه ګړی کښینه، څو دخوړینو زړونو لږ څه تاوبهرته وباسو، پیغله په یوه عجب متانت ورښکته شوه او دده ترڅنګه کښیناسته ځلمی: باداری؟ لکه څرنګه چه زما اوستا دوه څاڅکی او ښکی د یو بل په غیږ کښې فنا شوې، همدارنګه زما اوستا جلاوالی په ژوندوی او که په مرګ ممکن ندی زه به سبا یاستا پخوا کښې ژوندی، او یاستا په مخ کښې

مریم، نو که چیرته زما خلاصول غواړی هغه له تاسره په یوځای والی کښې دی !!

پیغله: کاشکی داسی کیدای شوای ....

ځلمی: څه شی مانع دی ؟

پیغله: نه پوهیږم !

ځلمی: زه نه غواړم چه ستا دزړه ارمانونه ځانته فاش کړم . او یا تا ځان سره ددی ربړونو ګالوته ایساره کړم، یه . یه، فقط دومره غواړم چه ماهسی ترلی پریږدی او بدا او سنی حال می دقدرت چارونه وسپاری !

زه یوه ګړی د مخه له مرګه بیریدم، مګر اوس می ستاهغه یو درحمت بت نظر چه سبائی زما په بهیدلو وینو یا پری شوی سر، او یا توك، توك، وجود اچوی، بس او کافی دی. اوس مې ستاهغه دغم او ښکه چه زما په خاوروئی څخو ي پوره نسل کولی شی، نوور څه اوما پریږده !

پیغلی دځلمی خبرونه سلګی روهله، دزړه امیل ئی وشلید، قیمتی مرغلری ئی یوه، یوه، دبنوله څوکو را ښکته کیدی!

بیائی لاس دځلمي قیدونونه وروغزاو، او په خورا زحمت ئی دده سوده شوی پښی داوسپنی له کړیو آزادی کړې، ځلمی ته ئی مخ ورو ګرځاو او وئی ویل :

پریږده قضاء څرنګه چه وی ویدی، او قدر هرڅه چه غواړی ودی کوی، خوزه ماز ی ستالپاره، له تاسره داوزدوسفرونو او سختو لارو ماګری کیږم !.

دشپی پای وه - دواړه دیلنو بیا بانونو په منځ کښی دقبیلې له سیمی ووتل په ډیرو دښتو او نهرونو پوریوتل، ډیر ی شپې ئی په تګ رنې او ډیری سری غرمی ئی دخلاصون په امید سړی کړې، راز، راز خړی اورنې او به ئی وخښلې، او دور، ور وچو او لمدو میو و څخه ئی نشو و ا خستله، چیر ته چه به ئی د کومی و نې ګڼ سیو ری یاد کوم غدیر (ډنډ) شنه غاړه اویاد کوم غرهوا داره څوکه ولیده، نو به ورو ګرزبدل او یوه شیبه به ئی ځانونه هوسا کړل، پدی شان ئی دبی یا به لاری څخه لږ . لږ، ترشا کوله !!

په سبب ئی خدای پوهیده خودپیغلی پرښکلی مخ دسفر په ګردونو برسیره دکو رم او اندوه بوه توره نری ډور پڅ هم ګرزیده چه دې ئی له ښکاولو هم ځان ژغوره ...

هر کله چه به دواړو دشپې تیرولو لپاره دخاورو په کډبو یا دتیږو ترا ړخه ځایونه ونیول نو پیغلې به دځلمی تر بیدیدلو پوری انتظار ایست خو کله چه به ئی دده په پوره خوب یقین شو . نو به را یا ځید له او څو قدمه به په بوه خواولاړه هلته به ئی یو کو چنونی صلیب له جیبه را بهر کړ او په خو را اخلاص او تعظیم به ئی څوواره په شوند و اوستر ګو و لګا و، بیا به په قراره دځانه سره بنیده او داسی به معلومیده چه د کوم غایب ذات څخه دهغه جنایت چه پری توره *

درحمت داوی

غزل

چه له یاره یاری کړمه کړمه کړمه
که دا رو را کړی طبیبه زه بیمار یم
بی له یاره که شکری که نبات دی
زما منع ځنی مکړه محتسبه!
دخدای روی دی ای قلمه مه ماتیږه!
گوره بیا به څه فساد په اوربل وکړی
په رخسار به ئی ناڅاپه و لگیږم
چه له لاسه دی شی کاند ه هغه چاری
نصیب بند کړم په کشمیر کښی کنه واوری ء

داغیار منت به وړمه وړمه وړمه
داشناله درده مرمه مرمه مرمه
واړه زهر چه زه خورمه خورمه خورمه
زه دمینی شراب څښمه څښمه څښمه
دخپل یار صفت چه کښمه کښمه کښمه
په شتاب چه راغله ډمه ډمه ډمه
که ئې گرز دلاری شمه شمه شمه
ای رقیبه مین یمه یمه یمه
په اختیار ورځینی لښمه لښمه لښمه

زه رحمت یم مسافر که بوسه را کړې
یاره نن سبا به ځمه ځمه ځمه

---

*شوېده بښنه عواړی ، او دخپل پیچلی کار په باره کښی چه دصواب او خطا خواوی ئی نه پیژنی . دباری اولارښوونی غوښتنه کړی. څوسپیدی وچوی . بیا بیرته خپل ځای ته راځی او دځلمی دو یښید لو په انتظار کښینی !!

خو کله چه ځوان د دې له داسی اسرار آمیزی روئی پوښتنه کوی. پیغله خپل اسرار پټ ساتی اوله ډیرو پوښتنو څخه هم خوابدی کیږی .

دځلمی په کوگل کښی دغمونو پر ازدحام برسیره یو بل غم نوی راپیدا شو !..

دریدیرش (۳۳) شپی ورځی ئی په پرسیدلو پښو. وزیونسونو او اوښکنو کم خو بوستر گو منزل وکړ. څوئی دلیری څخه دیوی آبادی سیاسه ترستر گو شوه یو پربل ئی زیری وکړ. او وپوهیدل چه دا گړی مودبدبختی روستی نیټه ده چه پوره شوه !!..

د مظلوم په حال مظلومیت سړی خبروی هغه چه په توان کښې دناتوان په حال ځان خبر ل غواړی داډول اقدام داو بو پر سر دخاطرو لیکلو ته ورته دی. (ژ)

ښاغلی م، ننګرهاری:

دغم خبر

هغه ملنګ چه ددوهۍ پرځای دژوندو دغم خوږو ملنګ واوددنیا د ترک پرځای ئې د خپلو ورونو د پاره عملاً د اثا بتول غوښتل چه په همدې د نیا کښې د خپلو ورونو دپاره چیغې وهل او دوی ته دژوند دغم خوږ لو تلقین کول هم په ملنګۍ کښې کېدو نکی دی دعقرب په (۱۱) د خپل خوا ږه بچې (چه د ٦ کلونوو) د موټر دچپه کېدلو په وجه مړشه انا لله وانا الیه راجعون .

د کابل مجله په خپل وار دخپل ژوند دغم خوږلو ملنګ ته دلوی خدای نه بخښنه غواړی اودده نژدی قربیانو ته تسلیت .

(اداره)

خاونده خدایه خوشالی به کله وینه .

وائی چه د آدم د کالبوت په خاوره څلوېښت شپې ورځې دغم باران وریده اودخوښۍ خوشالۍ تش یو څو د شمار څاڅکی پرې توی شوی دی .

له بابا آدمه تردې دمه هماغه دستوردی غم دی اودغم د پاسه غم دی .

هغه کوم سحر دی چه ماښام پرې نه بلوسی ، داسی به کومه ورځ وی چه تیاره پرې توره شپه رانه ولی ، داسی نا وی به چالیدلی وی ، چه د تنګ تکور د نغمو پسی ئی د ویر ناری اوساندی وانه وریدلی شی کومه ځوانی ده ، چه فنا ئی نه زمولی . کوم پسرلی دی .

چه خزان پرې ایرغل او غدۍ نه کوی او داسی به هغه خوشالی چرته وی چه غم پرې دبرید : پاره تیار ناست نه وی

ځوانمرګ ملنګ جان

دڅومره انتظار و نو نه وروسته ، دڅومره سړو سړو بادو نو ، څومره سکون او سکوت ، څومره مړغیچنۍ اومړژواندۍ ګاللو نه پس

دستور واو سپوږمۍ په اوښکو یو ګل راز رغون شی داسمان دزړه په تاو راپورته شی خنداته خوله بیرته او مینی ته غېږ وازه کړی ، و خاندی د نیا ورته وګوری ، بلبلان پرې راتول ، پېغلی او ځوانان ئی ننداروته روان شی ، او جوخت دغه وخت چه د حسن او مینې دبازار دګرمۍ انګازه بی خوره شی . نو دفنا بېرحمه څپېړه دانجمن په دی شمعه و بلوسی رڼا لاړه شی تازګی مړاوی شی ، حسن زمول شی او مینه د یوسوی داغ په څیر دزړه په سر سوی شروع کړی .

داسی دی د هری خوښۍ ، خوشالۍ او په ژوند کښی د هری رنګینۍ انجام او

سرنوشت، په غم هیڅکله هم آفت
نه را پریوځی، په خپګان
هیڅکله هم بد نظر نه لګیږی
په تیارو هیڅ خطر نه پیښیږی
ولی غم غم د خوښۍ او ښی ورځی
دی او لکه چه علامه اقبال وائی:
د ډاګونو اغزی زاړه شی
خو هم هغه شان تیره وی مګر
ګل چه ځوانیء ته ورسی
نو ورژی، دا د زمانی خوی او
عادت دی، غم ئی له غمه
نه شرمیږی او د ځولۍ غمونو
د پاسه انبار غمونه نور
وغورځوی، زړه نه لری چه
نرم شی، سترګی نه لری چه
وشرمیږی غوزونه ئی نه شته چه
شورو فریاد واوری، او عقل
نه لری چه د ګل په ځای اغزی
پریکړی، ننداری د غم دی.
تراری د ماتم دی، خبرو نه
د خپګان دی او هنګامی
د مصیبت دی، خولی دا وائی،
غوزونه دا اوری، سترګی
داوینی او فکرونه تول عمر
د غمونو تول ته تله په لاس
ولاړ دی. دنیا په غم ودانه او
په غم روانه ده، دیوه وېرنه

خلاصه نوی، چه بله پېښه شی
او دیوه غم اندیښنی لا پرتی وی
چه تازه پری نوری را شی.
د سبزنی کال د پسرلی په
میاشت کښی مو دیو داسی
ننګیالی ځوان د آرزو ګانو
دعوتیو درژیدو خبر در کړی ؤ
چه د پښتونستان په محافلو
کښی د قومیت چراغ، د وطنولۍ
د مینی رڼا او د قومی وحدت
پیغام ؤ هغه فدا عبد المالک ؤ
چه د قومی ادب ګلزارونه
پری تاندی ؤ او دادی په هغه یسی
نن یوه داسی پېښه اعلانوو
چه تصور ئی په ګوګلونو کښی
نه ځائیږی، خیال ئی زړه
نه قبلوی، ننداره ئی سترګی
برېښوی او ورته نه شی کتلای.

داسی خبر چه اوریدل ئی
د توپک د ګولۍ نه هم بدلګی
تحمل ئی د غره د باره هم
دروند دی. د زړه ولی خوځوی
د سترګو چینو ته پاخه پرانه
بند ونه ماتوی، د ملاڅک
راپاروی او پښتورګی رېږدوی
بیګانی تور ماښام دیوی داسی
ځوانۍ د ماجرا ختمیدو خبر

راوړی دی چه د ټولو افغانو
زلمو د زلمیتا به رنګینۍ
د آرزو ګانو ښیرازۍ،
د محافلو آب و تاب او د زړونو
کوشیرونه ورپوری تړلی دی
باور لرو او په دی ښه پوه یو،
چه هیڅ افغان ئی او ریدلو ته
تیار نه دی خوڅه وکړو د زهرو
ګوټ دی، ډېر تریخ دی معافی
غواړو او له خولی ئی وباسو-
پښتنو عزیزانو! په زړونو لاسونه
کېږدیء تشی ونیسیء او دا
واوریء چه هغه ستاسو په مینه
پتنګ او په ښی ورځی یسی
ملنګ ستاسو د خوشالۍ په
ارمانه مړ شو.

هغه ځوانی چه د تاریخ په
جوړولو کښی لګیاوه پخپله
تاریخ ته حواله شوه هغه نظر
چه ستاسو مقام ئی په تحت الثری
نه شو لیدی آسمان ته پورته شو
او هغه ګوګل چه ستاسو د وطن
د مینی نه ډک ؤ خپل اصل ته
وصل شو او هغه خوله چه ستاسو
د لیلی وطن په صفتونو نه مړیده
د جانان د پښوله خاورو ډکه
شوه.

ملنګ جان د قوم په مینه جمله خواهشونه قربان کړی ؤ او همدغسی لغړ د عشق په نا انجامه منزل له دنیا معلوم له منزل په خوا روان شو ، هغه خپل عمر تاسو ته و باښه ، عمر د پر خوږشی دی او دا د هغه سره تر ټولو عزیزه متاع وه چه تاسو ته ئی دمینی او اخلاص په ثبوت کښی وړاندی کړه ولی دې سره ئی خپلی آرزو ګانې هم او خپل ارمانونه هم ، خپل خیالونه او دفکر پرواز و نه هم خپلی ارادی او تکلونه هم تاسو ته امانت وسپارل ، هغه امانت چه د پښتنی ځمکی تقدس ، د پښتنو نیکو نو عظمت د پښتنو دودنو او ثقافت لوئی ورته ویلی شی او هغه دی دقامولی احساس ، د ملی تمرکز مسئولیت ، دقومی ښیګړو جذبه دافغانی ادب دتازګی لوړ تیا او پکښی دخپل امتیازی رنګ دساتلو او لوړولو خیال او فکر!

ملنګ جان دتیر و پښتنو دقدمونو یوه ښکالوه چه ورځی را وړه او شپی بیر ته یووړه پسر لی را پور ته کړه او خزان وزموللـه ـ

ملنګ جان د تاریخ یو پیغام ؤ چه له پښتنی ځمکی رااوچت شوی ؤ او په پښتنی خاورو پریوته ، لکه د بر ښنا یوخرګ چه په بی لاري کاروان وشی او دخوشالی داحساس سره ئی دخپګان اند ښینه غبرګه شی ، لکه په ګنهو ګو رو ور یخو کښی د لمر ستر ګه راښکاره او بیر ته فناشی لکه یوه ښا یسته غوټی چه دغوریدو سره سمه له بوټی وشو کوله شی او لکه په ساحل چه یوه چپه راشی او بیر ته په منډه منډه ستنه شی . داسی ملنګ جان د پښتیانا په ګډانو یو نو کښی یو خو در و یه ګل راخر ګندشو . دډاګونو لا له څوك روزی . دقدرت په لاس ئی روزنه وشوه . دا فغانیت لوی غرض پکښی ؤ . هغه خپل پیغام تو لو پښتنو ته ورساوه هغه قوم ته داو ښودل چه ستاسو څیری . نښتر او ښوونه دطوبی دونی ښا خونه دی ستاسو ځمکه د سر و زر و ټالی دی . ستاسو دهیواد کانی ټول دبد خشان لالو نه دی ستاسو د ګو سینډو نو د ګو ویالو او خوږو چینو او به د حیات او به دی او ستاسو دهد یرو خازی ستاسو شملی او دافتخار څلی دی داوستاسی په دې یام و کړې یرې وو یاری او ویښ شی ، څو کی ته کښینی دا ګوری ستاسو د نیکو نو جایدادی او هغوی خپلې دنام او ننګ دیرې ددې جایدادیه برکت چلولې ، په دې هغوی لوبیدلی ، جنګیدلی او ننګیدلی دی ستاسو زانګو ده ، اوستاسو دټولو نعمتونو مورده .

هغه دقوم اوملت هیر دښمن او دپښتنی ثقافت دهر غلیم ستر ګو له ، د کی وروړل او د هر خطر په وړاندې ئی ستر ګی بر ندې کړې .

هغه دبر څه ولیدل ، او دبر څه ئی وویل ، خو دا به ورو سته معلومیږی چه قوم دهغه څومره واوریدل .

ملنګ جان څومره چه دخپلو عزیزانو سره په خوله خوږ ، په زړه نرمه او په ژوند کښی ساده ؤ هومره دخپلو قومی حدودو په ژغورنه او ساتنه کښی سخت ؤ

هغه دانسان دزړه په شان ؤ چه له ګل نه نازك او له ګانی کلك ؤ . هغه یو همت ناك او بر کتناك ؤ ، دهغه استغنا دغره نه هم لوبه او دغرور جذبه ئی ، دذری نه هم وړه وه .

هغه یوزړور ، پاك او سپېڅلی انسان ؤ . دهغه په زړه کښې دملی جذبی یوسمندر بهېده او خدای خبر چه داسمندر دهغه دګوګل په کوزړی کښې څنګه ځای شوی ؤ هغه هر وخت دژوندو جذبو ، یو مست او د اباسیند په شان څپاند بهیر ؤ ماچرته دده نه زیات په پښتو او پښتونواله مین بنیادم نه دی لیدلی او ګمان نه کوم ، چه دمجنون مینه به دلیلی سره په هومره پیمانه رښتیاوی . لکه څومره چه ده د پښتون ملت او پښتیانا سره لرله . هغه دخوشال خټك په پله روان ؤ او دننګ په کار کښې داتك په پښتون هومره دردېده . لکه څومره چه دقندهار او ننګرهار په افغان رنځېده .

هغه دقوم خوله وه . او دقوم په ژبه ګړېده . هغه دقوم ستر ګې وې او ښه بدبه ئی ورته ښودل خو هغه چرې هم دخولې په شان دواکمنۍ دعوه نه کوله . او دستر ګو غوندې ئی دقوم په سر کښې ځای نه غوښت . هغه دپښتونستان او افغانستان دملتونو دورورولۍ او عزیزولۍ تړون ؤ ، کوشېر ؤ ، پیوند ؤ او هر پښتونستانی چه به ودردېده نوده به د افغانستان ملت له متروکه راخلاصه کړه او دبې ننګۍ په پېغور به ئی دهغه وینه ګرمه کړه .

هغه دپښتون دزړه آواز ؤ ځکه خو دهغه تاثیر دپښتون ملت په هره طبقه کښې نر ؤ که ښځه که امی ؤ که ملا . جوماتی ؤ که مکتبی . خان ؤ که غریب حاکم ؤ که رعیتی او تاجر ؤ که سوالګر . خو په هر یوه ښه لګېده . لبیك ئی ئی ورته وایه او دده دخولې ترخې پرې دشکر و غوندې لګېدی .

هغه داسې پښتنو ته هم رډې بډې سپینی خبری کولې چه له کبره ورته پورته نه شی کتل کېدی دهغه په زړه . خوله او لاسونو کښې اخلاص ؤ . هغه لکه دتوتی غوندې په خپل بڼ کښې او لګه دبلبل غوندې په خپل ګلزار چغېده . څوك به وی چه داخلاص او ازپرې بدولګی او دمینی پیغام ردکاندی .

هغه دقام ادب ته نوی رنګ ورکړ . نوی اړخ ئی ورته بدل کړ . دترابان او ګل اندامی ، سیف الملوك او بدری . او فرهاد و شیرینۍ کیسو او خیالی او موهومو افسانو په ځای . په ادب کښې حقیقت واقعیت او ریالیټی زابر سیره کړه . هغه دادب هنداره دژوند خواته ونیوله . دمکتب خیال ئی راڅرګند کړ . دکار فکر ئی قوم ته وړاندې کړ دژوند اندیښنه ئی ورته وښوده داتحاد پیغام ئی ورته واوراوه د شعر زمزمه ئی دملیت دنغمی سره لکه او به دګل په پاڼو کښې واغږله او څه وخت چه هغه ته خپل نظر داوښوده چه دکلایو بازو نړېدلی ، دکوټی یو دیوال ویجاړ او دوره تنبې نه شته ، نو هر څه ئی په ځای پرېښودل او دپښتونستان خواته متوجه شو ، دعیش او نوش

خواږه ئی په خلکو زهر کړل
خوب ئی پرې حرام کړ، دنغری
غاړه ئې پرې سور اور کړه،
اوداسی سوې نغمې ئی وکړی
دروی اودورمې ئی په ځنګلونو
کښی وژړولی، دامثالی هستی
دمثال دپاره راغله، دخوشالۍ
لږ ساعت دی، دستر ګو درپ
یاد پښتون د ماضی عمر په شان
زرزر تېره شوه، خو خپل
نقش ئی پرېښود ځوانان مری
او کیسی ئی پاته کېږی نن
دهغه په ځای زه، دهغه حساب
ور کولو ته تیار یم. که دپښتنو زلمو

حساب داسی پاک او آئینه ئی
داسی صفا شی، نو یو شیرشاه
خو پرېږده دپښتو زوړ متل دی
چه هره مېرمن در خانۍ ده
که مېړه ئی آدم خان وی
و لسونه به دمیرویس اوشیر شاه
نه ډک شی او بیا به کوم
د ملنګ جان غوندی د قام
او ملت شاعروی چه دقام دلوئی
سربلندی او اعتلا ارمانو نه به
هدیری ته یوسی، بو یه چه بیا
پښتنه مور کښېنی او دملنګ جان
غوندې ځوی راوړی، زه خپلو
پښتنو عزیزانو ته ددې درنې

او ملامانوونکی پېښې په مناسبت
فاتحه کوم، لوی څښتن دی
دهغه ګور ګلونه کړی او هغه
خدای چه داسی هستی ئی له مونږه
واخسته او دملی ادب په میدان
کښې ئی دومره عظیم الشانه
اوخطرنا که خلا پیدا کړه له
خدایه دملنګ جان نعم البدل
غواړم اوخپلو عزیزانو ته دژړلو
په ځای دصبر سپارښتنه کوم
او داوایم چه ژاړی مه!
خوستاسی دې قسم وی که
که تر ډېره وخته به مووخندل
انا لله وانا الیه راجعون

.....

ای مظلومی

ستا هغه! خاطره خو دیوه عالم یأس په وخت کښی زما په ناتوانه قدرت دامید سره مخامخ شوله او ته دنا امیدۍ نه خلاصه او دامید له عالم سره اشنا شولی مګر زما سره لا هغه خاطره شته او تر ډېره وخته. ستا اوښکی دزړه دعالمه ولاړی مګر دهغه اوښکو هغه عکس چه زما ستر ګو واخسته او حافظی ته یی وسپاره دډېر وخت دپاره لما سره شته نو اوس ته ووایه چه زه مظلوم یم که ته؟

زه خو وایم چه زما مظلومیت ستا تر مظلومیت ډېر دی،
یادا چه زه نسبت تا ته دډېر زړه سوی وړیم ای درحم وړ بیو زلې!!

(ژواک)

ظالم رواج

د «تاگور» له آثارو څخه

دښاغلی قندهاری «رشاد» ترجمه

د(شهنازی) ځوانی ولاړه، ترټولو وروستی مین یی په خوب بیده پریښودله پرخپله ولاړ، او بیائی ددې نوم په خوله رانه ؤړهاله ددې سترگی رونی شولی او وپوهیده چه که څه هم شل کاله ژوندی پله پسی په بدلمنی او گناه کښی تیر کا. بیاهم د زهرو غازنلری او نه له هغو ځوانانو څخه چه ددې ترطنازو قدمولاندی به ئی لیمه ایښودل دومره څوك شته چه ددې دپاته ژوند اړلاس دی وروغزیږی او بیرته دی تش او نامینده ددې پرمخ ونه نښلی.

دی نتلې د درست ژوند په، الو بلو یوه هسی دزو، زو څپری هم ونه موندله چه خپله دې ئې وبللای شی او تر مرگه دی سر پکښی سیپ کړی.

دې ولیدل لکه څنگه چه ئی بیوفا مینانو یو په بل پسې دا پریښودله، د کور ځالو ځلو (اثاثیه) هم یو په بل پسی مینه ځنې پری کوله دې چه دغه نهائی افلاس او هغه خپل د تبذیر بدعادت ته وکتل، ژوند ورپوری اورشو دهری خوانامیندی یی غړی وتښتول، د خونی پروچه کلکه مځکه پرمخی ولویدله او په ورټ ورټ ئی وژړل.

ماښام شو، تیاره خپره شوه، خوددی په غړوغمو کښی دومره توان نه و، چه پاڅی ډیوه ولگوی - نازولی ولاړه زوی ئی له لوږی دومره ژړلی و، چه آواز ئې ترخوله نه خوت او په اوسیلی، اوسیلی کښی ترکټ لاندی خوب یووړ.

په دغه ترڅ کښی چاور، وټکاوه. (شهنازه) له قهره سره وشنه بږرکی وربا څیدله جاروئې پسی ور واخیست او په خورا شدت ئی وربیرته کړ، له دی سره دمعاشقی له پاره راغلی ځلمی چه ددی دغه قهریدلې ورځ ولیدله، دوی پښې یی نوری پور کړی او په منډه یی ځان ددې له خونړیو سترگو نهام کړ،

نتلی (شهنازی) دعصبانیت په جوش کښی دغم په خوب بیده زوی په غیږ کښی را واخیست او ورنژدی یوه څاته یې ورود نگل، په درب ئی گاونډی خبرشول. راغلل مور وزوی ئې راو کښل مور بیسده وه خوزوی دوخته مړوه.

په وینو لژنده (شهنازه) شفاخانی ته یووړه شوه، هلته چه پرسد راغله، کوتوال صاحب خپلی پوښتنی وگرویږنی ځنې بشپړې کړی، او ددی خبره ئې محکمی ته واچوله.

(۲)

قاضی صاحب چه (مستان) نومید، دتحقیقاتو ترلوست او دعوی ار وبدلو وروسته ئې پرنتلی (شهنازی) دمرگ حکم وکړ که څه هم ددې وکیل او مفتیانو ډیرزیار ویوست چه

ایداد (سزا) ئی لږ سپك شی ، خو هیڅ ځای ئی ونه نیو ځکه چه قاضی صاحب له کاسیر و او بد لمنو ښځو څخه ډیر بدوړه او دهغوی په ترتنه کښی ئی خوراشدت کاوه .

ددی لپاره چه دقاضی ددغی رشی (خلق) علت څرګند شی دده دنوی ځوانۍ پر حالاتو لږ غور په کار دی :

کله چه (مستان) په مدرسه کښی اوست کاوه ددوی د کور په ګاونډو کښی یو کهول اوسید چه له یوه زاړه پلار، یوی سپین سری مور او یوی ځوانی کونډی لور (پری) څخه جوړ شوی ؤ .

(پری) چه به د کونډتون په تنهائۍ کښی دنړۍ هری خواته سترګی رغړولی هغه به هسی یوه پراسراره اوزرینه دنیاورته ښکاریده چه دعیش او خوند وړانګی به پرې خپری وی دی تصور به تل ددی په کوګل کښی دارمان اوتمنا سیدونه په څپور اوستل اوزړه به ئی په غور ځنګو ور کښې یوست کله چه به داد کور له کاره وز ګاره شوله دبورجل (بالا خانی) په کړکۍ کښی به کښینستله، لارو یو (راهروان) ته به ئی کتل او ددوی په سخ او بختور تابه، به ئی رخه کیدله. دژو ندانه په ډګر کښی د چمتو ځلمو بیبا کو کټکیو (قهقهه) او سرشاره خوشالیو ددې کاته ډیر جلبول په تیره بیا دنوی ځوانۍ په نشه مست (مستان) ته چه په ځان ئی ښه ګوته وهله او هر سهار وغرمه به دمدرسی دتګو راتګ په وخت کښی ددې ترمخ تیریدی تل ددی سترګه وراوښتله او ددی په سترګوئی ترټولو لارو یو د ښکلا او ځوانۍ له مخی یو خاص امتیاز او فوقیت درلود .

دې خو ، له ډیره وخته دتخییل په برکت دخپل دغه محبوب ځلمی سره په خیالی عیشو عشرت ژوند تېراوه ، خو کله چه (مستان) دی ته په مینه او توجه و کتل، په شونډو کښی ئی ورته ومسل او د(پیر ګل) په عاریتی نامه ئی لمړی لیك ورولیږه ، ددې نتلی دزړه پر کوز ئې ټکه ورواچوله او دهغه خیالی عیشو عشرت حصول ئی خورا نژدی او آسانه ورته وایساوه ، د(پیر ګل) سترګی ورا ړولو او مسادبې بختی (پری) سترګی پټی کړی او له مینی ډك لیك ئی دیوی طوفانی سیلۍ په څېر ددی دپت پاللو او دور اندیشۍ زنی له ریښوو کیښ ، دی هم په هغه لاس چه دجذباتی هیجان په اثر ریږ داخیستی ؤ په ما ته ګوډه املا ځواب ولیك او ور و ئې لیږه .

تردغه لیك لږی ورځی وروسته په یوه توره تیاره شپه (پری) دپلار له کوره راو وتله او په هغه موټر کښی چه ددې له پاره پر سړك ولاړو سپره شوه - خو کله چه یی محبوب ځلمی (پیر ګل) ترڅنګ کښینوست او دموټر دروازه ئی وتړله - دپښېمانۍ او ندامت یوې خورا تندی سیلۍ ددی زړه په ټالو کښی یوست - دموټر دچالانیدلو سره داور پاڅېد له

د(پیر گل) په پښو کښې ورولوېدله . پلوئی ورته ونیو اوپه ژړا اوجګیوئې ورته وویل:
«دخدای پارمی در وړی دی ما کښته کړه» .
مګر غشی له لیندۍ وتلیؤ ، اوددې نتلی تورو تپو هیڅ ځای ونه نیو .

(۳)

اوس (مستان) ډېرسم شویؤ ، شپه ورځ ئې وظیفې کولې ، اوږدې تسپې ور څخه وې اوپه دین کښې یې ډیر زیار یوست ، دنیا دده تیری کارنامی هېری کړی وې . خوبواځی یوه ښځه لاژ وندۍ وه چه دده په ناوړو اخلاقو خبره وه .

پر (شهنازی) چه دمرګ حکم وشو ، څوورځی نه وې تېری شوی چه (مستان قاضی) یوه ورځ دښځو د بندیخانې ترمخ تېرېدی ، په بندیخانه کښې ئی زوږ ترغوږشو ، چه د بندیخانې په وره ئی سرور ننه یوست ، که ګوری چه له بندیوان سره د(شهنازی) شخړه ده ، وئی مسل اوله ځانه سره ئی وویل : «دابی بخته ګوره چه د ګور پرغاړه ولاړه ده ، بیا هم له خپلی شتایۍ اولچری څخه لاس نه اخلی ښایی که دوزخ ته ولویږی هم به د دوزخ له دروازه وان سره خپله شتایی او بیشرمی پرې نه ږدی »

چه ور نژدی شو (شهنازی) سلام ورواچاوه اوعرض ئی پروکړ : « قاضی صاحب ! ګوتمۍ می له بندیوانه راواخله »

قاضی صاحب ته چه دامعلومه شوه چه(شهنازی) یوه ګوتمۍ پخپلو کوڅیو کښې پټه ساتلی وه . بندیوان صاحب چه په خبر شویدی په زور ئی ځنی اخیستی ده اواوس ئی پرهغه شخړه ده ، هېښ هېښ پاته شو چه دابی بخته څرنګه دمرګ په وره کښې دهسی واړه شی له پاره جنګېږی ؟ اودایی په زړه کښې ومنل چه رشتیا هم د ښځی یونوم «ضعف» دیء .

بندیوان ته ئی وویل : « ته کم ؟ »

بندیوان ګوتمۍ وروړاندی کړه ، خوڅرنګه چه قاضی صاحب ګوتمۍ ځنی واخیستله لکه څوک چه سره سکرو ته په لاس کښې ورکړی ، وغورځیدی بڼه ئی والوتله ، ناړی ئی ونښتلی اوسترګی ئی د ګوتمۍ په نګین کښې چه دیوه نوی ځلمی تصویر دعا جو پریوه توته ګۍ کینلی او ترلاندی(پیر ګل)دده دځوانۍ عاریتی نوم لیکلیؤ ، پاته شوی .

څه وخت پس چه ئی سترګی راپور ته کړی د (شهنازی) مخ ته ئی په ځیرځیر و کتل او ددې هنه رنی او ښکی ور په زړه شوی چه (۲٤) کاله پخوائی په یوه توره تیاره شپه کښې له باحیا سترګو پرمعصومو باړخو ګانورا څڅید لی او د ده په پښو کښې ورلویدلی و . خوافسوس چه دااوس هغه (پری) نه وه .

دملی شورا د لو مړی معین ښاغلی مولوی صالح محمد د پښتو له پخوانو لیکوالو څخه دی ده دمولانا بلخی (رح) د مثنوی څه نکلو نه او موعظې په پښتو نظم کړی دی چه یو مستقل او خوندور اثر ځنی جوړ شوی دی دغه یوه ټوټه ئې د نمونې په ډول وړاندی کوو. (اداره)

عسی ان تکرهوا شیء وهو خیر لکم

ته په ځان نه یې خبر — چه دا خیر دی که شر!
ته بې خیر بولی هاشروی — ته بې عیب ګڼې هنروی
ته بې بدبولې هاښه وی — ته یې ښه بولې واښه وی
خیر و شر دده په لاس — ما و تالره اخلاص
خوار سړی کله پوهیږی — په دې سر کله رسیږی
په دریاب کښې چه کښتۍ — سورۍ کوله پوهیدیء
دظاهر په ستر ګو شر و! — خوخضر په دی خبر و
چه دا ګټه ده هر ګوره — تې زما په ستر ګو ګوره
مثنوی کښې حکایت دی — مولانا نه روایت دی

حکایت

یو سړی و مین شوی — ډیر په زړه و خوږمن شوی
پر لیلا ئی زړه بایللی — د مجنون په شان نتلی
معشوقه ئی بې پروا وه — ډیره دا په استغنا وه!
هیڅ یې لارنه وه د وصل — او تر منځ یې ؤلوی فصل
د عاشق خو تل زاری وی — د معشوق بې پروایی وی
خوار عاشق مدام نالان — او معشوق پرده خندان
خوار عاشق وی په اورسوی — معشوق نه وی خبر شوی
اوه کاله سرګردان و! — په ژړا سره نالان و
لارئې نه وه معشوقې ته — تل به تیء ددې کوڅی ته
محروم پاته په فراق و — د لیلا په اشتیاق و
د لیلا د عشق له اوره — یوه شپه وو وت له کوره
پر ده پېښه لو ګزمه شوه — نو پر جوړه د غم شپه شوه
کوتوال زغ و کیء پر ده — دی خورا و بیریده!
مخامخ ئی کړه الا!! — کوتوال سم دده ترشا

داسی څغاست لګه هوسۍ — په هیڅ شی نه بندیدی
څو را واو ښت تر دیوال — باغ ته راغی په بد حال
ګوری باغ نه دی جنت دی — او خوراهم ښه خلوت دی
دی له عشقه لیونی و — له ګزمی نه تلولی و

اوله نمونه

شا و خوا ئی و کتله ! — معشوقه ئې و لید له !
حیران پاته شو ودې ته — ودی جوړی مائدی ته
دغه خوب وینم که خیال دی — څه عجب رنګه احوال دی !
چیری تلم او چیری وم زه — چیری راغلم څه کوم زه !
معشوقې ئې تعظیم و کړ — هم ددې ئې تکریم و کړ
ول دا څنګه ښه خلوت دی — په خلوت کښی بیا جنت دی
ته زما ښه معشوقه یی — ته زما ښه محبوبه یی
زه پر تا یمه شیدا — زه مجنون ته می لیلا
اوه کاله سرګردان وم — تل په تا پسی پویان وم
نن کوتوال یم راو ستلی — ستا حضور تې رسولی !
دا کوتوال ؤ که رحمت ؤ — دا وبال که سعادت و
دا ګزمه نه وه مژده وه — چه د وصل ذریعه وه
دا عسس نه و هوس ؤ — دغه زما فریاد رس ؤ
دا عسس نه و رویبار و — دی رهبر زما دیار و
دا عسس نه وقاصد و — دی دلیل زما د شاهد و
دا عسس نه و څراغ و — دی مشل زما تر باغ ؤ
و ګوره دغه قدرت — دباری دا لوی حکمت
خوار عاشق ؤ سرګردانه — لیونی او پریشانه
چه دغم ګانه ښادی شوه — هم ور پېښه خوشحالی شوه
د دنیا غمونه تو له — د عقبی ښادی و بوله
مونږ یی بد بولو ها ښه وی — تر شکرو لا خوا زه وی
په هیڅ غم مه غمجن کیږه — په نقصان مه خوږمن کیږه

یه هر غم کښې لو ښادی ده
په خبکان کښی خوشحالی ده

داتحاد جماهیر شوروی دلوی انقلاب دڅلوېښتم کال دتلین په مناسبت په کابل رادیو کښی دعقرب په ۱٤ بروډ کاست شو .

داکتوبر انقلاب

داکتوبر انقلاب داتحاد جماهیر-شوروی د خلقو دپاره ډېرلوی اومهم تاریخی یادگار دی چه اوس ئی د څلوېښتم کال تلین په ډېرو مجللو مراسمو نیول شویدی اوله دېنه لویه خوشحالی ددغه ستر ملت دپاره بله نشته مونږ داتحاد شوروی دیوه دوست اوښه گاونډی مملکت په حیث ددوی په خوښیو کښی گډون کوو اوپه ډېره مینه ورته ددغې لویې خوشحالۍ مبارکی وایو.

ددوستۍ قانون او رسم و رواج همدغه تقاضالری چه یو دوست دبل دوست خوشحالی دهغه دپاره ښه وگڼی او دهغه له فکر او احساساتو سره سمه خوښی او نیکمرغی ورته وغواړی زمونږ دوستی له اتحاد شوروی سره دچا له نظره پټه نه ده او دمتقابل احترام او ښه گاونډیتوب په ډېر ښه اساس ولاړه ده.

څه موده پخوا چه زه دیوه کلتوری هیئت په مشرۍ اتحاد شوری ته ولاړم ما ته ددغې دوستۍ مظاهر ډېر ښه څرگند شوه او دهغه ځای دخلقو په حال او په قال کښې راته دافغان ملت ډېر قدر او احترام ځان وښوده .

ددغه لوی او ستر مملکت خلق دافغانستان دخلقو ځینی روحی او اخلاقی صفات لکه آزادی دوستی، صلح پسندی او شجاعت ډېرستائی او زمونږ دبې طرفۍ عنعنوی سیاست ته چه زمونږ دآزادۍ ډېر ښه مظهر دی په درانه نظر گوری لکه چه مونږ دهغه ملت برجسته صفات لکه سادگی، زحمت کشی او مېلمه پالنه چه له افغانی خصایلو او عادانو سره قرابت لری ښه گڼو او قدرئی کوو مونږ داتحاد شوروی د خلقو ښه نظر او دوستانه رویه هېڅکله نه هېروو او د دوستۍ په قدر او دودو دستور ډېر ښه پوهیږو .

دهمدغی دوستۍ دپاره مونږ داتحاد شوروی خلقو ته دژوندانه ډېری ښېگڼی او ډېرې خوشحالۍ غواړو او آرزو لرو چه پخپل ښه نیت او ښه سلوک ددنیا دصلح او سلام په ساتلو کښی دښی برخې خاوندان وی .

کوم مادی او معنوی پیشرفتونه چه دژوندانه په مختلفو چارو کښی ددوی په برخه رسیدلی دی داثابتوی چه دغه لوی او ستر ملت درشد په مرحله کښی دی او ورځ په ورځ ئې مادی، معنوی او روحی مقام او منزلت او چتېږي چیرته چه داجتماع اساس په کار ایښودل شوی وی او هېڅ فرد هېڅکله وزگارنشی پاته کېدی هلته افکار او اعمال په یوه نقطه

جمع کېږی او دا فرادو
د مختلفو قوتونو دغه راز اجتماع
ډېر خارق العاده نتایج لری
چه پوره تصور ئی څوك نشی کولی.
پخوا به ځینو کسانو گمان
کاوه چه په اتحاد شوروی
کښی غړی ډېر کار کوی
مگر د فکر او دماغ د انکشاف
دپاره مبدان ډېر تنگ دی
او د علم د پیشرفت دپاره زمینه
ښه مساعده نه ده دا گمان اوس
غلط وخوت او د اتحاد شوروی
پوهانو د ساینس او تخنیك
په برخه کښی هم خپل کافی
استعدا د دنیا ته وښود او
دا معلومه شوه چه دوی د هر فن
دپاره رجال لری او د ژوند

په هره خوا کښی ئی ډېر ښه
پیشرفت په برخه دی همدارنگه
د اتحاد شوروی د خلکو د ژوندانه
په باب پخوا ډېرې خبرې کېدی
چه ډېره زیاته مبالغه پکښی
گډه وه مگر اوس چه دغه
مملکت ته تگ راتك زیات شو او
کلتوری هیئتونه ورځی
او راځی هغه پخوانی ذهینت
چاته نه دی پاته او هر لیدونکی
دا یقین حاصلوی چه د لیدو
او اوریدو ترمنځ ډېر فرق
موجود دی.
د افغانستان او اتحاد شوروی
روابط چه تقریباً له څلوېښتو کالو
راهیسی د دوستۍ او ښه نیت

په اساساً تو باندی قایم دی په
دغه موده کښی ئی ورځ په ورځ
خپل طبیعی انکشافی سیر ته
دوام ورکړی او مخصوصا
په څو ورو ستیو کالو کښی
د دواړو مملکتو د مشرانو او
نورو هیئتونو د تگ راتگ
په اثر ئی په اقتصادی او فرهنگی
خواؤ کښی ډېر وسعت موندلی
دی چه د ډېر ښه گاونډیتوب
ډېر ښه مثال ورته ویلی شو.
په اخره کښی وایم: تل دې
وی زمونږ او د اتحاد شوروی
ښه دوستی، خوښ دې وی زمونږ
دوستان او ښه گاونډیان.
تینگه دې وی د دنیا صلح او امن.
« الفت »

تغافل

لکه د شمع په خندا چه پتنگان وریته شول
ډېر نازولی په لمبو کښی د هجران وریته شول.
که د ژوندون مانۍ ودانه په غفلت وی، وی به!
خو تغافل کښی د خوبانو عاشقان وریته شول

سیلاب «صافی»

تاریخ

په څو ډوله ویشل شوی دی

ښاغلی محمد حسن «سابی»

تول هغه طبیعی او بشری حادثات چه په تیره زمانه کښې (که څه هم چه یوه ورځ د مخه وی) پېښې شوی وی (په هر شکل چه وی) تاریخی حیثیت پیدا کوی او د تاریخ د تحقیق او څېړنې لاندې راځی.

څرنګه چه دغه حادثات له یو خوا د پېر زیات او له بلې خوا متنوع او راز راز دی، نو د دغو حادثاتو د نوعیت له مخې تاریخ هم متعدد او متنوع کېږی او راز راز نومونه او وریسې د تحقیق او مطالعې لاندې له اصول غوره کوی.

نو بنایدې تاریخ د حادثاتو د نوعیت او د هغو د موضوع په لحاظ په پنځلس برخو ویشل شوی دی چه دادی په لاندې ډول د هر تاریخ نوم او د هغه د تحقیق او مطالعې موضوعات او مفردات د اوټ لاین په شکل لیکو:

۱- عمومی تاریخ:

دغه تاریخ تول هغه طبیعی او بشری حادثات چه د نړۍ پر مخ پېښ شوی او اثر ئې جهان شموله وی تدقیق او مطالعه کوی (۱)

د بشری حادثاتو مفردات دادی: بشر کله او څنګه د مځکې پر مخ راغی؟ بشری نژاد و نه کله او څنګه پیدا شول؟ او کله او څنګه د مځکې پر مخ تیت او خواره شول؟ د بشر ابتدائی ژوند څنګه ؤ، مدنیتونه کله او په کوم ځای کښې منځ ته راغلل لیک او لوست څنګه، کله او په کوم ځای کښې ایجاد شوه؟ د لرغونی بشر طرز تفکر، رسوم، معتقدات، صنائع، او د ژوندانه سبک په څه ډول و؟ او د هغو اجتماعی، اقتصادی او سیاسی حالات په څه شکل و؟ سیاسی او اقتصادی رژیمونه او ستر انقلابونه کله منځ ته راغلل. او همداسې نور.

او د طبیعی حادثاتو مفردات پدې ډول دی: مځکه کله او څنګه پیدا شوه؟

د مځکې ارضی تشکیلات څنګه ؤ؟ مځکه کله د حیوان او نبات د ژوندانه د یاره مساعده شوه. مځکه په کائنات کښې څه موقعیت او له عالم سره څه ارتباط او یا متقابله اثرلری؟ تر اوسه پورې د مځکې په ارضی تشکیلاتو او د مځکې پر مخ څه تحولات راغلی دی؟ لوی لوی طوفانونه او خونړی سیلابونه کله او په کوم ځای کښې پېښ شوی دی؟ لوئې وچې او بحرونه کله منځ ته راغلی دی؟ کوم غرونه نوی پیدا شوی او کوم غرونه له منځه تللی دي؟ او همداسې نور. که څه هم چه د دغو طبیعی حادثاتو تحقیق او تدقیق په فزیکی (طبیعی) جغرافیه او جیولوجی Geologie (د مځکې علم) او په کوسمو ګونی Cosmogonie (د عالم د تشکیل سلسله) پورې اړه لری خو څرنګه چه کوسمو ګونی ته د عالم تاریخ او جیولوجی ته د مځکې تاریخ هم ویل کېږی نو ځکه مونږ د عمومی تاریخ د طبیعی حادثاتو په مفرداتو کښې ذکر کړل.

(۱) باید وویل شی چه تاریخ یوازې تشه واقعه نګاری او د حادثاتو لیکل او ثبتول ندی بلکه د تېرو حادثاتو او واقعاتو تدقیق او تحقیق د تاریخ له لومړنیو وظیفو او مقاصدو څخه ګڼل کېږی. «سابی»

دغه تاریخ لکه څنګه چه دمخه موویل تول هغه بشری او طبیعی حادثات تدقیق اومطالعه کوی چه هغه عمومی او عالم شموله حیثیت او بڼه ولری. په بشری حادثاتو کښې هغه پېښې چه اثرئې یواځې په یوې بشری ټولنې اویا په یوه ځانله ملت محدود او منحصر یا ته کېږی دعمومی تاریخ په مفرداتو کښې نشی راتلای په همدې ډول طبیعی کوچنی حادثات هم ځینی منابع دهرمملکت دپاره هم یوعمومی تاریخ ته قائلیږی چه په هغه کښې دیومملکت تول سیاسی، اقتصادی اواجتماعی اوضاع ثبت اوتدقیق کیږی (۱).

۲-خصوصی تاریخ :

دغه تاریخ خاصتاً د بشری کلتور ماضی حالات تدقیق اومطالعه کوی.

دطبیعی حادثاتو مطالعه او تدقیق چه دعمومی تاریخ له مفرداتو څخه و، پدغه تاریخ کښې دبحث موردواقع کیږی. ددغه تاریخ دبحث موضوعات د بشری کلتور او تمدن ترعنوان لاندې دادی :

بشری راز راز قوانین، نظامات، ژبې، فنون، صنایع، آداب معتقدات دژوندانه سبکونه افتخارات برغلونه، مدافعې، اختراعات او اکتشافات او بالاخره د بشر تول تېر اجتماعی حالات.

باید وویل شی چه، دغه پورتنی موضوعات په خصوصی تاریخ کښې هغه وخت شامل پیدای شی چه اثر اوافتخارات ئې تول بشر او یا د بشر اکثریت ته رسیدلی وی او یواځې په یوه مملکت محدود نه وی پاته شوی.

۳-دادبیاتو تاریخ :

دغه تاریخ یواځې دیوولس تېرادبی کیفیات و تحولات تدقیق او مطالعه کوی لکه (په عمومی ډول) دیوولس داحوالوشرح دعلوموآدابو له مخې، اودهغو دعلمی اوفکری تنزل اوپرمختګ دعلت پیدا کول. پدغه لړ کښې دغه موضوعات شامل دی.

لکه : ژبه، لیک، علوم، آداب او دلیکوالو، شاعرانو، عالمانو، حکیمانو، ریاضی پوهانو، اوطبیبانو اودهغونورو پوهانو داحوال شرح چه دعلم اوادب په لیار کښې ئې زیار وهستلی. اوځان ئې لوړودرجوته رسولی دی اودهغو دوجود له برکته نورو ګټه اخیستې ده اودهغو له افکارواونظریاتو څخه چه کومه نتیجه جامعې ته پلاس ورغلی او کوم آثار چه له هغونه په یادګار پاته شوی دی اړداسې نور (۲).

ددغو ټولو موضوعاتو تحقیق اوتدقیق دادبیاتو دتاریخ وظیفه ده.

جرجی زیدان وائی : دیه عمومی تاریخ (۳) کښې که چېرته دادبیاتو تاریخ نه وی شامل نو هغه تاریخ بې دیولړ جګړو اوشخړو، ماتواوبریو، چپاوونواوویني تو بولو له شرحی اوتفصیل نه غیر بل څه نلری.

په خصوصی ډول هغه عناصر چه دادبیاتو تاریخ تری جوړیږی

---

(۱) دجلال الدین همائی دایران دادبیاتو تاریخ.

(۲) دایران دادبیاتو تاریخ دجلال الدین «همائی» تألیف.

(۳) له عمومی تاریخ څخه دده مطلب دیومملکت عمومی تاریخ دی نه دجهان عمومی تاریخ. «سایی»

اویایه بل عبارت دمطالبوهغه مفردات چه دادبیاتو دتاریخ ترتدقیق او تحقیق لاندې راځی یدې لاندې ډول دی :

۱ـ دژبې له پیدا کېدو نه تر یایه پورې چه کوم تغییرات ورته پېښ شوی هغه بیانوی لکه دحروفو ، نومونو ، افعالو ، اومشتقاتو پیدائښت ، د تعبیر اسالیب د کلماتو دجوړېدولارې ، داصواتو اوغږونوشرح ، دژبی عنصری ښیګړې پلټل ، د ژبی زېښې معلومول اوله نورو ژبو سره ئې پرتله کول چه دی بحث ته (فیلالوجی) یادلغاتوفلسفه هم وائی .

۲ـ ژبی ته ګوری چه دنورو ژبو کوم اثرونه پرې لویدلی دی؟ معانی او الفاظ ئی څنګه سره اوښتی دی. کلمات تردغه اجنبی اثرلاندې څنګه پیدا شوی دی .

۳ـ په ژبه کښې چه څه علمی اوادبی ذخایر شته هغه ټول راښئی مولفین اولیکوال ټول بیانوی یعنی دیوملت عقلانی او علمی لوړتیا بیانوی .

٤ ـ دملت کیسې ، نکلونه ، اوروایات ټول تحلیل کوی اوله دغه څخه دهغه ملت ادبی ذوق افکار ، ملی عقائد او آراء رابا سی .

٥ـ ټول افواهی اشعار (تالیکلی اثار) اومتلونه اوملی سندرې پلټی اولدغوڅخه هم دیوه ملت ادبی ذوق او استعداد معلوموی.

٦ ـ ټول مدون اولیکل شوی آثار او کتابونه راټولوی اوله هغو څخه دملت دژبې او فکر اوعقلانی تجلیاتو په خصوص کښې معلومات اخلی .

۷ـ هغه اوښتنی اولوړتیاوې چه دعلم اوادب لامله یوه ملت ته ور پېښېږی ښیی او دادب اهمیت او غوره والی د بشریه تاریخ کښې ښکاره کوی .

۷ ـ دادبیاتو تاریخ دا ښکاره کوی چه دیوی ژبې وینا او کلام (نظم ـ نثر) څنګه پیدا شوه ؟ څنګه ئی لوړتیاوموندله؟ کومې دورې ئې تېرې کړی؟ چا څه خدمت ورته کړی دی؟ کوم کوم معانی اومقاصداومضامین پکښې شته؟ خاصیتونه اومزایائی څه دی؟

داو دادبیاتودتاریخ دبحث موضوعات اودهغه جوړوونکی عناصر چه په پورته ډول ذکرشول . (۱)

٤ ـ دفلسفې تاریخ :

ددغه تاریخ موضوع فلسفی نظریات . فیلسوفان او فلسفی مکاتب دی ،

اودغه لاندې موضوعات تربحث اوتدقیق لاندې نیسی :

فلسفی نظریات له کوم ځای نه منشاء نیسی ؟ دفلسفی نظریاتو د پیدا کېدو علتونه اوعوامل کوم دی؟ فلسفی نظریات چاچا ښکاره کړیدی؟ فلسفې ته چاخدمت کړی دی ؟ فلسفه کله راغلې او له کوم ځای نه شروع شویده ؟ د فلسفی د تحول او تکامل سیر څنګه دی؟ فلسفی مکتبونه کله منځ ته راغلی دی؟ دهر فلسفی مکتب بانیان اومربیان اوپیروان څوک دی ؟

فلسفی نظریاتو دبشریه طراز تفکر او نورژوند کښې کوم اثر اچولی دی؟ او همداسې نور مسائل کوم چه په فلسفه اوفیلسوف او فلسفی مکاتبو اونظریاتو پورې اړه لری .

---

(۱) پدغه لړ کښې داول نه تر اتو پوری دادبیاتودتاریخ مفردات دپښتو ادبیاتوتاریخ له لومړی ټوک څخه کټ مټ اخستل شوی دی . «سایی»

۵ـ دعلومو تاریخ:

دغه تاریخ دتحقیق او مطالعې مفردات دادی:

علوم (غالباً مثبته علوم) کله له فلسفې نه جلا شول؟ علمی نظریات چا ښکاره کړ یدی؟ علومو نه چا خدمت کړی دی؟ دعلومو دتکامل سیر څنګه دی؟ علوم بشر ته څومره خدمت کړی دی؟ دعلومو اثر د بشر په ژوندانه کښې څه او څومره دی؟

۶ـ اقتصادی تاریخ:

دغه تاریخ دتحقیق او تدقیق موضوعات اقتصادی نظریات او اقتصادی سیستمونه دی مثلا ګوری چه کومو عواملو او علتونو اقتصادی نظریات او اقتصادی سیستمونه منځ ته راوړل؟ کومو اشخاصو اقتصادی نظریات ښکاره کړیدی؟ اقتصادی نظریات څنګه عملی کړی شول؟ اقتصادی سیستمونه څنګه او کله منځ ته راغلل؟ کوم اقتصادی سیستم ښه نتیجه ورکړه او کوم بیا بد نتیجه وښندله؟ د اقتصادی سیستمونو د تحول سیر څنګه دی؟

۷ـ دمذهبونو او دینونو تاریخ:

دغه تاریخ دبحث موضوعات دادی:

ادیان او مذهبونه څنګه منځ ته راغلل؟ کو موعلتونو او عواملو ادیان او مذهبونه منځ ته راوړل؟ دادیانو او مذاهبو دتعدد او اختلاف موجبات کوم دی؟ ادیانو او مذاهبو ته د بشر څه ضرورت ؤ؟ ادیانو او مذاهبو دبشر په ژوندانه کښې څه رول لوبولی دی؟ دادیانو د تحول او تکامل سیر څنګه دی؟ دادیانو او مذاهبو موسسین او راوړونکی څوك او د کوم ځای دی؟ ادیان او مذاهب په کوم ځای کښې پیدا شول او څنګه خلکو ومنل؟ د دغو پورته مسائلو او موضوعاتو تدقیق او تحقیق دمذاهبو او ادیانو دتاریخ کار دی. خو د اخبره په یاد لرل په کار دی چه دغه تاریخ ټول ادیان او مذاهب په مجموعی ډول نه بلکه هر یو په انفرادی ډول تر بحث او خېړنې لاندې نیسی.

۸ـ سیاسی پولیټیکل تاریخ:

دغه تاریخ خصوصاً دحکومت او ملت تر منځ تېر متقابله روابط او مناسبات تدقیق او مطالعه کوی او پدغه لړ کښې دبحث مفردات ئې دادی:

حکومتونو (په انفرادی ډول) له خپلو ملتونو او ملتونو له خپلو حکومتونو سره څنګه مناسبات او څه روابط لرل؟

حکومتونه څنګه منځ ته راغلل؟ او څنګه خلکو ومنل؟ او بیا څنګه له منځه ولاړل؟ دحکومتونو دتحول سیر څنګه ؤ؟

۹ـ دسیاسی نظریاتو تاریخ:

دغه تاریخ د تېرو سیاسی رژیمونو په متعلق د پوهانو دسیاسی نظریاتو تدقیق او مطالعه ګڼل کیږی او دبحث مفردات ئې یدی ډول دی: سیاسی نظریات څنګه منځ ته راغلل؟ چا چا سیاسی نظریات ښکاره کړیدی دسیاسی نظریاتو رول دحکومتونو په جوړښت یا دهغو له منځه تللو او یا دهغو د بدلیدنو په متعلق څه او څنګه ؤ؟

۱۰ـ د دیپلوماسی تاریخ:

دغه تاریخ ددولتونو تر منځ

(نوټ) مثبته علوم لکه فیزیک، ریاضی، کیمیا، بیولوجی، هندسه، او نور دعلومو تاریخ دغه ټول علوم په مجموعی ډول نه بلکه هر یو په انفرادی ډول تر تدقیق او تحقیق لاندې نیسی.

تیر مناسبات او روابط تدقیق او مطالعه کوی اود بحث موضوعات ئی دادی .

کوم عوامل او علتونه دی چه دولتونه دي ته اړ باسی چه باید خپل مناسبات او روابط له نورو دولتونو سره تینګ کړی او پائی و شلوی ؟

د (الف) د دولت مناسبات د(ب) له دولت سره څنګه او په کوم اساس بناؤ ؟ او یا د هغو ترمنځ مناسبات ولی وشلیدل؟ او د دغو مناسباتو او روابطو شلیدل او تینګیدلو څه نتائج ور کړل ؟

۱۱- عسکری تاریخ :

ددغه تاریخ دبحث او څیړنی مفردات پدی ډول دی :

دعسکرو جودته څه ضرورت پیدا شو ؟ دلومړی ځل دپاره عسکر په کوم شکل او په کوم ځای کښی منځ ته راغلل؟ پخوا د عسکرو وظائف څه او تشکیلات ئی څنګه ؤ ؟ د (ایکس) په جګړه کښی د(الف) دعسکرو دبریالیتوب رمز او عوامل د(ب) په عسکر باندی څه ؤ او د (ب) عسکر ولی ماتی و کړه ؟ عسکرو په خپلو عملیاتو کښی له کومو وسائلو څخه استفادی کړیدی؟

۱۲- طبی تاریخ :

دغه تاریخ مرضونه او له هغوسره دبشر مجادله په تیره زمانه کښی تدقیق او مطالعه کوی مثلاً ګوری چه (ایکس) مرض کله کشف شو او بیا له هغوسره څنګه جګړه او مجادله وشوه ، هغه مرض دلومړی ځل دپاره چا او په کومو وسائلو کشف کړ، دهغه واکسین او درمل چا جوړ کړل اپیدمیك (عالم ګیره) مرضونه کله راغلی او څومره تلفات ئی رسولی دی له هغو سره طب څه او په څه ډول مجادله و کړه .

۱۳- عدلی او حقوقی تاریخ :

ددغه تاریخ دتدقیق او تحقیق مفردات دا دی :

عدلی او حقوقی قوانین څنګه منځ ته راغلل دغه قوانین چا او په کوم ځای کښی منځ ته راوړل. لرغونی محاکمات په څه ډول و مجرمینو سره څنګه عمل کیده؟ په تیرو زمانو کښی خلکو دحق او حقوق عدل او عدالت مفهوم څه تعبیر کاوه او دحق او عدالت معیار ددوی په نظر کښی څه ؤ .

۱۴- دنژادونو او انسابو دسلسلی تاریخ :

دغه لاندی موضوعات ددغه تاریخ تر تحقیق او څیړنی لاندی راځی :

مثلاً ګوری چه آریائیان یا سامیان څوك دی؟ له کوم ځای نه راغلی دی او چیرته اوسیږی څو څانګی لری . کوم اقوام آرین یا سامی بلل کیږی کوچنی اقوام (په منفرد ډول) دچاله پښته دی؟ او کومو نورو اقوامو سره نسبی او نژادی تعلقات لری ؟

۱۵- د صنائعو تاریخ :

ددغه تاریخ دبحث او تدقیق موضوعات پدی ډول دی :

صنائع کله منځ ته راغلل ؟ دصنائعو دتحول او تکامل سیر څنګه دی ؟ صنائعو دبشر په اقتصادی. اجتماعی او سیاسی حالاتو کښی څه رول لوبولی دی ؟ کومو عواملو صنائعو ته انکشاف ور کړ ؟

داو په پورته ډول پنځلس ډوله تاریخ او دهغو دتدقیق او تحقیق موضوعات او مفردات چه په لنډ ډول او داوټ لاین په شکل و ښودل شو .

آرام نشی کولای ترڅوچه د نړۍ دټولو کلناتو ضروریات پوره او هغوی په آرام نشی .

-۱۲-

بیا دښار یو کوټوال دی ځانته مخاطب کړ او ورته ئې وویل :

«مونږ ته زمونږ دجرایمو په شاوخوا کښی څه ووایه !»

هغه وویل :

هر کله چه ستاسو دروح لنګروشلیږی . او ستاسو دروح دهواؤ هوس په منګولو کښی ګیر او روان شیء نو په دغه وخت کښی دخپلی تنهایۍ او بې کسۍ په حالت کښی نورو خلکو ته ضرر او تکلیف رسوی ء:

نورو ته ضرر او تکلیف رسول په حقیقت کښی خپل ځانته ضرر او تکلیف رسول دی ،

نو ددې ګناه د کفارې دپاره باید تاسو دنیکمرغو خلکو دروازې وټکوی ء !

او دهغو انتظار وباسی ء!

ستاسو هغه اعلی نفس - چه له تاسو نه په ډیرو ټیټو او ګناه کارو خلکو کښی هم دغه نفس موجود دی ،

دغه اعلی نفس دهغه سمندر نوم دی چه هیڅ کله ئې او به نه پلیټیږی ددې په سطحه هر لامبوزن لامبووهلی شی. بلکه ستا اعلی نفس، دلسرمثال لری .

چه هغه نه دموږك عادت لری او نه دمار .

مګر هغه یواځې ستاسو په وجود کښی مقیم نه دی.

ستاسو په وجود کښې ډیر داراز شیان شته چه هغه دبشریت جزء دی ،

لیکن په هغو کښی ډیر لانر اوسه پاخه شوی نه دی .

کوم شیان چه هغه ستاسو په وجود کښې د بشریت جزء دی هغه دادی:

ماله تاسو څخه اکثر د هغو خلکو ذکر اوریدلی دی چه هغو کوم جرم کړی وی. چه ګویا هغه ستاسو له جنس او نوعی څخه نه دی.

بلکه هغه ستاسو له نړۍ څخه خارج یو دار از خلك دی چه هغو ګویا ستاسو په نړۍ کښې بی ځایه مداخله کړی ده.

مګر زه تاسو ته دا وایم چه: لکه څنګه چه مقدس، پارسا او ایماندار خلك د هغه اعلی نفس څخه نشی پورته کیدلای چه هغه ستاسو په وجود کښې دی.

هم دغه راز ګناه کار او کمزوری خلك د هغه خپل ادنا او ټیټ نفس څخه نشی ښکته کیدلی چه هغه د هغو په وجود کښې موجود دی.

لکه څنګه چه دونې هغه پاڼه چه وچه شوی او یا زېړه شوې وی، دونی په ټولو نورو تازه او شنو پاڼو کښې شامله او داخله ګڼلی شی.

هیڅوك دا نشی ویلای چه دا زېړه او وچه پاڼه د دی شنو او تازه ؤ پاڼو څخه نده او یا د دی ونی پاڼه نه ده.

همدغه راز ګناه کار هم کومه بوه دا راز ګناه نه کوی چه د هغی ګناه او جرم په مسئولیت کښې ستاسو ضمیر په پټ او خفی ډول شریك نه وی.

تاسو ټول د یوی قافلی په څیر د خپل نفس اعلی په لور روان یاست تاسو هم لاریاست او هم لاروی (راه رو) او که په دی قافله کښې له تاسو څخه د یوه سړی پښه خطا شی او پریوځی نو هغه نور خلك د خطری څخه داسی خبر وی لکه څنګه چه یوه تېږه په لاره کښې خلك او لاروی د خطری څخه خبر وی.

نو که دغه لویدلی شخص خپل و لاړ ملګری پورته نه کړی او

هم دغه شان ئې په ځای پرېږدی او دوی ورڅخه مخ په وړاندی ولاړ شی ،

نو په دی صورت کښی ګویا دوی د نورو راتلونکو خلکو د پاره دلاری په منځ کښی خطره پرېږدی . او داهم واوریء ! - که څه هم دازما خبری به ستاسو په غوږونو ښی نه لګېږی - چه مقتول د خپل قتل په جرم کښی په خپله هم شریك وی .

کوم شخص چه لوڅ او تالا شوی دی هغه په خپله هم د خپلی تباهۍ په جرم کښی شریك دی .

پاك او بی ګناه خلك، د مجرمانو او ګناه کارو خلکو دافعالو په مسئولیت او ذمه دارۍ کښې ارومرو شریك دی .

هیڅ کوم یو دا راز پاك او بې ګناه شخص نشته دی چه د هغه لاسونه به د بدکارانو په بدکارۍ نه وی ککړ شوی .

همدغه ډول اکثر مجرمان د هغه ښکار هدف کېږی کوم هدف ته چه دی ضرر او تکلیف ور رسوی .

اکثر هغه مجرمان چه په سزا رسېږی په ظاهر کښې مجرمان نه وی او د نورو بې خطاؤ معصومانو بار هم د دوی په اږو باروی .

تاسو انصاف د بی انصافۍ او ګناه کار د بې ګناه څخه نشیء جلا کولی .

دا ځکه چه دوی د لمر په روڼا کښی یو بل سره یو ځای اوږه په اوږه ولاړ دی .

لکه څنګه چه تور او سپین تارونه د یو بل سره تاو شوی او سره نغښتلی شوی وی نو که په دغه صورت کښی نور تار و شلیږی ، نو جولا تول تارونه

بیرته سموی اوخپلی هغو کار گاه ته هم متوجه کیږی چه دغه کمزوری تار ورڅخه وتلی وی.

که په تاسو کښی یو شخص داوغواړی چه دیوی بی وفا ښځی جرم دانصاف په تله کښی وتلی، نو دهغه دیاره داخبره لازمه ده چه هغه ددغی ښځی دخاوند زړه هم ددغی تلی په بل چا بری کښی کښېږدی، او ددغی ښځی دروح سره دهغه سړی روح هم وتلی. او بیا هغه شخص چه دمجرما نو دوهلو تکو اورظیفه ئی په غاړه اخیستی ده، باید دهغه شخص روح ته هم ځیر شی چه په هغه ظلم او تیری شوی دی.

که په تاسو کښی یو شخص داغواړی چه دحق او انصاف په نوم یو مجرم ته سزاور کړی او په دی وسیله دګناه ونه دانصاف په تیرغو څه اوپریکړی، نو هغه باید ددغی وتی بیخ ته هم ځیر او ملتفت شی. او هر کله چه دی په ځمکه کښی دونو ښځی ریښی وګوری نو ده ته به داحقیقت هم څرګند شی چه دځمکی دلاندی په خاموشو اوتاریکو اعماقو کښی ښی اوبدی او دمیوی لرونکو او بی میوو ونو ریښی دیو بل سره ګډی اومخلوطی پرتی دی.

نو ای دعدل او انصاف اجاره دارو حاکمانو! که تاسی غواړیء! چه د حق او عدل دتقاضا سره سمی فیصلی وکړیء او خلکو ته سزا ګانی ورکړیء!

نو تاسو به دهغه شخص په خصوص کښی څه فیصله کوی چه په ظاهر کښی نیکو کار ښکاری، مګر دهغه روح او باطن غل او خراب وی.

تاسو به هغه شخص ته څه سزا ورکوی، چه هغه په خپله توره دبل دجسم څخه روح جلا کړی.

مګر دې کار سره سم دی خپل روح هم جلا کوی او په خپل لاس خپل ځان وژنی او تاسو به هغه شخص څنګه محاکمه کوی ء چه د هغه عمل د ظلم او فریب څخه خالی نه وی. مګر هغه خوار به خپله هم د نورو د فریب په جال کښی اړ او د نورو په مقابل کښی مظلوم وی؟

تاسو به هغو خلکو ته څنګه سزاور کړی ء چه د هغو پښیمانی د هغوی د جرایمو او ګناهونو څخه ډېره زیاته وی؟

آیا پښیمانی د هغه قانون په اساس چه تاسو وربانديعمل کوی ء سزا نه ګڼلی کېږی؟

لیکن دا سزا یو راز سزا ده چه که تاسو وغواړی ء چه هغه ته سزا ور کړی ء، نو د دغی سزا د قانون له مخی هغوی نه مستحق کېږی. او نه د خپل دغه کار په اثر تاسو دغه پښیمانی د مجرم د زړه څخه جلا کولی او بیرته کولی شی ء!

دا ځکه چه پښیمانی هغه شی دی چه بې له بلنی څخه د شپی په تیارو کښی دې د پاره راځی چه بیده راو بښ کړی چه:

هغوی د شپی په دغه خاموشۍ کښی د خپل نفس په شا او خوا کښی مطالعه وکړی.

په حقیقت کښی پښیمانی د هغه شی نوم دی چه دغه شی د شپی په تیارو کښی د انسان په وجود کښی د ضمیر ډیوه بلوی.

تاسو چه د دې خبرې دعوا کوی ء چه مونږ دا نصاف په اصولو ډېر ښه پوهیږو، نو زه تاسی ته وایم چه تر کومه وخته پوری چه تاسو د یو ګناه کار انسان د ژوند په شا او خوا کښی دومره معلومات ونه لری ء څومره چه ئی تاسو په خپل فکر کښی د هغه د نیکیو په شا او خوا کښی لری ء نو په دغه وخت کښی به

د اخبره معلومه شی چه سربلند او سرنگون دواړه یوشان دی .

گویا یوا نسان دی او یود هغه نفس ، چه دسهار اوشپی په بمنځ کښی په یوډول قائم دی چه یوی خواته دشپی په تیارو کښی دهغه ادنی نفس ښکاره او ظاهر دی ، اوبلی خواته دسهار په رڼا کښی دهغه اعلی نفس جلوه کوی

په دغه وخت کښی به تاسو ته داخبره معلومه شی چه د معبد د محراب هغه تیږه چه تاسی ته جگه ښکاریږی ، په حقیقت کښی دبنسټ له تیږی څخه کوم جگ والی نه لری .

بیا یوه قانون ساز وویل : -۱۳-

«مونږ ته دقانون په شا او خوا کښی څه ووایی»؟

هغه وویل :

که څه هم تاسو ته دقانون جوړول او د هغه په خلکو باندی جاری کول ډیر خوند در کوی .

مگر دهغه قانون ماتول او له هغه قانون څخه مخالفت کول تاسی ته ډیره زیاته مزه در کوی ستاسو مثال دهغو کوچنیانو غوندی دی چه د سمندر په غاړه لوبی کوی ، هغوی په ډیره مینه او شوق دشگو کورگی جوړ وی ، او بیا ئې په ډیره خوشحالۍ بیرته ورانوی او دهغو په ورانولو ډیره خندا او خوشحالی کوی ، مگر څومره چه تاسو دغه کورگی په خندا او خوشحالۍ ورانوی ، په هم هغه اندازه سمندر تاسو دپاره ډیرې زیاتې شگې راوړی .

تاسو له دغو شگو څخه بیا په نویو کورگو جوړولو پیل کوی ، او بیا ئې ورانوی ، او سمندر بیا تاسو دپاره نوې شگی راوړی .

هر کله چه تاسو دخپلو جوړو کړو کور گیو په ورانولو خاندیء! نو سمندر هم تاسو سره په دغه خندا کښې گډون کوی.

مگر دهغو خلکو به څه حال وی؟ چه هغوی نه خپل ژوند سمندر گڼی او نه دانسانانو جوړ کړی شوی قوانین دشگو کور گی گڼی، بلکه هغوی خپل ژوند یو ډېر قوی غر گڼی او خپل قوانین ددغه غره په تیږو باندې کینل شوی نقوش گڼی، او دوی دا کوښښ کوی چه په دغو تیږو دخپل معنوی وجود ډېر ښکلی نقوش و کینی.

مگر دوی هم ډېر زر زر دغه خپل نقوش ورانوی او نوی نوی نقوش ور باندی دې دپاره کینې چه ددوی په عقیده دغه نوی نقوش دپخوانیو نقوشو په نسبت ډېر ښه او مکمل دی.

او په دې ډول هر نوی او تازه نقش بل نوی او تازه نقش ته اړتیا پیدا کوی، لیکن سره ددې هم ددې خلکو ژوند چه خپل حیات یو غر گڼی ډېر نااستواره وی.

هر کله چه دوی نور خلك دخپلو ځانو څخه بل ډول او مختلف وینی، نو که څه په اصل حقیقت خبر نه وی، مگر ډېر خپه کېږی.

دهغه شل او گوډ، ړوند او کوڼ به څه حال وی؟ چه نور خلك په نڅا او خوشحالیو کښې بوخت وینی، او دحسد او کینې په اور کښې کړېږی او دخپل حسد داور د لمبو دغلی کولو دپاره دخپلې گوډی پښې، مات لاس او ړندې ستر گې دښه والی او گټو په شا او خوا کښې بې شماره ډول دلیلو نه بیانوی.

دهغه غوائی به څه حال وی؟ چه هغه دخپلې غاړی دجغ سره دومره مینه لری چه دی صحرایانو غوایانو ته له دې کبله په بده ستر که گوری چه هغوی د جغ سره مینه او آشنائی نه کوي.

دهغه زوړ مار به څه حال وی؟ چه هغه دخپل زوړ والی له کبله خپل پوستکی نشی غورځولی، او چه ځوانان ماران ووینی چه دوی خپل پوستکی غورځولی دی، نو هغوی ته دی بربنډ او بی شرمه وائی.

هغه شخص چه نابللی اکثرو ځایو ته ورځی او میلمه کېږی او ډېر وختی راځی او ډېره زیاته ډوډۍ خوری او دومره خوری چه ځان ورباندې ستړی کړی او چه ډېره زیاته ډوډۍ وخوری او په خېټه کښې ئې دسپیر کیو دپاره ځای پاته نه شی نو پاڅی ولاړ شی.

نو بیا خپل ځان نه ملامتوی او داوایی چه اوس په میلمستیا گانو کښې خوند نه دی پاته شوی، او نه خلك دمیلمستیا په قانون پوهېږی او له همدې کبله ددوی په میلمستیا کښې دخلکو معدې او هاضمې خرابیږی.

زه دې راز خلکو ته بې له دې څه ووایم چه تاسو خو دلمر په رونا کښې ولاړ یاست مگر تاسو لمر ته شا کړې ده.

تاسو یواځی خپلو سیورو ته گوری ء او دلمر ستر گې ته نه گوری ء او دغه ستاسو سیوری ستاسو قانون دی.

ستاسو په عقیده دلمر حقیقت یواځې دسیورو جوړول دی. نو بیا ددې خبرې تاسو سره کوم دلیل نشته چه تاسو اصل قانون چه په لمر کښې دننه پروت دی، دومره قدر ته منی ء چه دهغه درونا څخه جوړ شوی سیوری دځمکې په مخ پلټی ء.

په دغو سیورو پسی ځغلی او منډی وهی.

مگر اوس زه هغو خلکو ته یوه خبره کوم چه هغوی لمر ته مخ کړی دی او دلمر خواته روان دی.

تاسو دځمکې په مخ پرا ته سیوری قطعاً نشیء نیولی!

او تاسو چه دهوا دسیر سره سم منزل او سفر کوی ء نو په دې صورت کښې تاسی قطب نما ته هیڅ ضرورت نه لری ء.

او نه تاسو د انسانانو جوړ کړی قوانین دخپلې سلطې لاندې راوستلی شی، هر کله چه تاسو جغ دخپلې غاړې څخه کښته گوزار کړی ء او د خلکو دودانی کړی بندی خانې دروازې ته ورنشی ء نو تاسو دقانون څخه ولی ویره کوی ء بلکه تاسې آزاده نڅا کوی ء او دانسانانو په جوړو کړو قوانینو کښې ځانونه مه نښلوی!

هیڅوک ددې قدرت نه لری چه تاسو محاکمه کړی لیکن په دې شرط چه تاسو دخپلو وجود ونو څخه دغرض خراب کالی لیری کړی ء.

مگر دغه کالی د کوم لاروی او مسافر په لاره کښې مه غورځوی ء.

ای د کسب او هنر خاوندانو! تاسو په دې صورت دنغارې اواز بند ولی شی ء چه د هغې دڅرمنې د پاره کوم شی او یا ټوکر وغوړوی ء او تاسو دیورباب او یوې سربندې آواز په دې ډول بندولی شی ء چه دهغو تارونه سست او بې ځایه کړی ء او په دې ډول ددغو تارونو او نغارې دموسیقی آواز او نغمه بنده او فنا کولی شی ء مگر تاسې داقدرت نه لری ء چه د آسمان موسیقی په کومه وسیله غلې او فنا کړی شی.

بیاورته یوې ښځې چه دغه ټولې خبرې ئې اوریدلې چپه اوغلې یوې خواته ولاړه وه وویل :

«مونږ ته دعقل او جذبې په شا اوخوا کښې یو څو خبرې وکړه !»

هغه وویل :

ستاسو دروحونو څخه هغه وخت دجنګ ډګر جوړیږی ، چه ستاسو سلیم عقل او نفسانی خواهشات ستاسو فهم او پوهه په خپلو منځو کښې لاس او ګریوان او په خپلو منځو کښې په جګړه اخته شی.

کاش چه زه په دغه وخت کښې ستاسو په روحونو کښې ننوتلی شوای !! او ددغو په جنګ اخته قوا ؤ په منځ کښې مې روغه کولای شوای !!

ارمان چه په دغه وخت کښې مامنځ ګړتوب کولای شوی !! اوماداقدرت اوقوت درلودای چه ستاسو دعناصرو دغه مجادله اومناقشه مې دوحدت په نغمه بدله کړی وای !!

تاسو په دې حقیقت پوه شیء ، چه ستاسو عقل اوجذبات ستاسو دروح دهغې بېړۍ چه دحوادثو او ژوندانه دسمندر په څپو سفر کوی دوه څپې دی . نو که ستاسو ددغې بېړۍ دبادوان اویا څپو څخه یوه هم ماته او یا خرابه شی ، نو په دغه صورت کښې به ستاسو ټول مقدرات او اختیار دسمندر د څپو په لاس کښې شی .

ستاسو په لاس کښې به کوم اقتدار پاته نشی او په دغه سمندر کښې به لاهو روان یاست !!

دا ځکه چه عقل یوا ځنی هغه قوت دی چه د عمل او حرکا تو کنترول کوی

او د هغې جذبې مثال چه عقل ور سره نه وی دیوې ډاسې شعلې په څېر دی چه هم خپل ځان او هم نورشیان سېځی .

او بوالحې عقل د حرکت او عمل د کنترول ضامن دی نو تاسو د دې خبرې کوښښ کوی چه ستاسو روح ستاسو عقل هغه جګ مقام ته ورسوی چه په هغه مقام کښې جذبات ځای لری او په دغه مقام کښې عقل او جذبات په شر بکه د ژوندانه نغمې پورته او خپری کړی، دغه نغمې ستاسې په وجود کښې حرکت پیدا کړی او تاسو د عمل او فعالیت ډګرته راګډ کړی او ستاسو په بې جلبه او بې توازنه عمل او حرکت کښې توازن او معقولیت پیدا کړی .

او خپل روح ته د دې خبرې اجازه او اختیار ورکړی چه د جذباتو د لار ښودنې اختیار عقل ته په لاس ورکړی .

او دادې دیاره چه ستاسو د دې کار په اثر ستاسو جذبات هره ورځ په خپل اور کښې سوځېدلی او بېرته له هغه اور څخه را پیدا شی . او د فقنس په څېر په خپلو ایرو کښې خپل ژوند محفوظ وساتی زه له تاسو څخه په تینګه داخبره غواړم چه تاسو په خپلو زړونو کښې د فیصلې قوت او خپل خواهشات د اسې معزز او محترم وساتئ: لکه څنګه چه یو ډېر قدردان سړی خپل ډېر ګران میلمانه په خپل کور کښې معزز او محترم ساتی .

زه په دې خبره پوره یقین لرم چه تاسو به هیڅ کله دا کار ونه کړئ چه د یوه میلمه به تر بل میلمه ډېر قدر او احترام کوئ.

دا ځکه چه که د کور خاوند په دوو میلمنو کښې د یوه میلمه څخه د بل میلمه ډېر قدر کوی، نو په دغه صورت کښې له دغه سړی څخه د واړه میلمانه خپه کېږی .

په کوم وخت کښې چه تاسو دغرونو په درو کښې دیوې ګورې او سمسورې ونې په ساړه سیوری کښې کښېنئ، او د دغې درې دسمسورو ځمکو او ښکلو منظرو په چپه فضاء کښې په نندارو بوخت شئ.

نو په دغه وخت کښې ستاسو زړه په دغه چپه او خاموشه فضا کښې دا وینا کوی. چه:

زما عقل د نړۍ د ټولو عقلونو دهوسایۍ سبب دی، لیکن په کوم وخت کښې چه د ځولونو او دهوا دطوفانو لښکرې په دغه ځمکه خپرې شی او د هوا قوی لاسونه ذونو په خوځولو پیل وکړی او دوریځو او تالند ومهیب اوازونه دآسمان دعظمت اعلان وکړی.

نو په دغه وخت کښې ستاسو زړونه او حواس مرعوب شی او په دې وینا پیل وکړی:

چه عقل دجذبې دوینو په دوران کښې حرکت کوی. او له دې کبله چه تاسو دعقل مطلق په بسیطه فضاء کښې دژوند یوه نغمه یاست او له دې کبله چه تاسو دعقل مطلق په لامتناهی فضا کښې، او دعقل مطلق په لامتناهی صحرا کښې دیوې ډېرې جګې او غټې ونې یوه پاڼه یاست.

نو په دی صورت کښې ستاسو د پاره دا خبره ضروری او لازمه ده چه دعقل په ذریعه ځانونه هوسا کړئ او دجذبې په ذریعه حرکت وکړئ.

- ١٥ -

بیاله دغو خلکو څخه یوه ښځه را ووتله، او په لوړ آوازئې دا پوښتنه وکړه:

مونږ ته ددرد په شا او خوا کښې څه ووایه!

هغه وویل :

ستاسو درد په حقیقت کښې دهغې سیپۍ (صدف) د ماتېدلو د تکلیف نوم دي چه په هغې کښې ستاسو پوهه بنده ده.

درد په حقیقت کښې دیوه اعلی فکر دولادت دلنګېدلو د تکلیف نوم دی .

لکه څنګه چه دیوې میوې څخه دهغې دمغز درا ایستلو دپاره د هغې د کلك پوټکی ماتول ضرور دی، هم دغه راز دیو اعلی فکر درا برسېره کولو دپاره درد لازم او ضروری شی دی.

لکه څنګه چه دیوه ګل دغوړېدلو دپاره دغوټۍ دسینې چاودل ضرور دی .

هم دغه راز ستاسو دپاره هم دا خبره ضرور ده چه تاسو هم دخپل صدف دچاودلو او ماتېدلو تکلیفونه او دردونه وګالیء.

که ستاسو زړونه د دې خبرې استعدادلری چه دژوندانه ورځنۍ پېښې په دقت سره مطالعه کړای شی. نو په دغه صورت کښې ستاسو دغه دردونه او تکلیفونه ستاسو دخوشحالیو څخه په ګټه او خوند کښې لږ او کم نه دی .

دغه شیان به تاسو دخپل زړه دموسمونو دپاره داسې قبول کړیء لکه څنګه چه تاسو دفصلونو دپاره موسمونه قبول کړی دی.

نو هر کله چه ستاسو په زړه دغم او تکلیف موسم راشی، نو تاسو به د خپل فکر او استقامت په سیوری کښې ددغو حالاتو په شا او خوا کښې مطالعه وکړیء

په دغه لړ کښې به تاسو دې نتیجې ته ورسېږیء چه ددغو تکلیفونو ډېره برخه تاسو په خپله دځان دپاره راپیدا کړې او انتخاب کړې ده، درد او تکلیف په حقیقت کښې دهغو ترخو دارو ګانو نوم دی چه هغه ستاسو د خفی نفس د مرضونو د علاج دپاره هغه مجرب دارو دی چه حاذق طبیب هغه ددغه مرض د پاره لازم ګڼلی دی .

لېکن په دې لړ کښې باید تاسو په خپل خوا خوږی او مهربانه طبیب اعتماد وکړیء او دغه دارو په ډېره مینه وڅکیء.

دا ځکه چه که دجراح لاس ډېر دروند او خراب وی مګر سره د دی دغه لاس دقدرت په اشارو حرکت کوی او ستاسو په وجود کښې کار کوی.

نو کومه پیاله چه طبیب ئې تاسو ته وړاندې کوی، که دومره تو ده وی چه ستاسو شونډې وربانديسوځی. مګر دغه پیاله په حقیقت کښې دمغو خاورو څخه جوړه شوې ده چه هغه دقدرت کلال په خپلو اوښکو خیشمه او خټه کړې ده.

-١٦-

بیا یوه سړی وویل:

مونږ ته دخو دی دا سرار و په شا او خوا کښې څه و وایه!

هغه وویل:

دچپتیا او سکون په حالت کښې ستاسو زړه دا کولی شی چه دشپو او ورځو په ټولو اسرار و اورازونو خبر شی؟.

مګر ستاسو غوږونه په ډېره بې صبری د دې خبرې انتظار باسی چه ستاسو دزړه علم به هغو ته کله ورورسېږی.

تاسو داهیله لریء چه هغه راز چه ستاسو په زړه کښې تل واضح او ښکاره پروت دی دالفاظو په شکل او ښه ستاسو غوږونو ته هم درور سېږی.

تاسو داهیله لریء چه دخپل تصور په عریان او بر بنډ جسم ګوتې اولاسونه ووهیء!

ښه کار دادی چه همدغه شان وشی او ستاسو دغه هیله ترسره شي ستاسو دروح دژور والی چینه ضرور باید ډکه او جاري شي،

او په ډېر شور او منډه د سمندر لوری ته روانه شی .

په دغه وخت کښې به د سمندر د لایتناهی ژور والی خزانی تاسو ته ښکاره او څرګندې شی .

مګر تاسو ددې خبری کوښښ مه کوی ء چه دغه نا معلومی خزانی په کومه تله وتلی ء .

او نه ددی خبری کوښښ وکړی ء چه د خپل علم او لیاقت ژور والی او عمق د کوم یو لرګی او یا متر په ذریعه کچ او معلوم کړی ء .

دا ځکه چه ستاسو معنوی وجود یو داسی سمندر دی چه د هغه پایاب او غاړی چا ته معلومې نه دی .

تاسو دا مه وایاست چه ما حق وموند او زه حق ته ورسیدم .

بلکه صرف دا ووایاست چه ما له ډیرو حقیقتونو څخه فقط یو حقیقت وموند او یو حقیقت ته مې علم ور ورسید .

دا مه وایاست چه ما د روح لاره معلومه کړه بلکه یو ځی دو مره ووایاست چه زه په لاره باندی روان وم چه په یو ځای کښی د خپل روح سره مخامخ شوم دا ځکه چه روح ډیری لاری لری .

روح په دی خبره مجبور نه دی چه په یوه تا کلی لار ولاړ شی .

او نه روح دونې په څیر یو موجود دی چه ریښې ئې په ځمکه کښی ښخی وی .

روح د صد برګ ګل په څیر یو ګل دی چه ډیری پاڼی لری .

بیا یو مدرس وویل :

«مونږ ته هم د تعلیم او تعلم په خصوص کښې څه هدایتونه را کړه»

هغه وویل :

هیڅوك تاسو ته د هغه علم تعلیم نشی در کولی تر څو چه هغه علم ستاسو په وجود کښې ستاسو د ادراك په افق په نیم خوا به ډول موجود نه وی . هغه مدرس چه هغه د مسجد د دیوالونو په سیوری کښې او یا د مدرسی په محراب کښې خپلو شاګردانو سره د علم په شا او خوا کښې خبری اتری او مذاکره کوی هغه په حقیقت کښې خپلو شاګردانو ته علم نه ور کوی ، بلکه هغوی ته خپل ایمان او خپله مینه ور کوی که هغه د پوهی خاوند وی نو هغه به هیڅ کله تاسو ته داونه وائي چه زما د عقل په خونه کښې را ننوزیء بلکه هغه به تاسو ته هغه لار درښئی چه هغه ستاسو د زړه در شل نه نیغه ورغلی ده .

یونجو می دا کولی شی چه هغه د بسیطی خلا او فلکی اجرامو په شا و خوا کښې تر کومی اندازی چه هغه په دی خصوص کښې معلومات لری تاسو ته بیان وکړی .

مګر خپل هغه ادراك چه د شیانو د ماهیت په خصوص کښې ئی لری او د خپل تمیز قوت تاسو ته نشی در کولی . هم دغه راز یو ډم تاسو ته خپل ساز او راز راګونه او بدلی او رولی شی .

مګر تاسو ته هغه غوږونه نشی در کولی چه تاسو د هغو په ذریعه د نغمو په حقیقت پوه شیء او دغه نغمی ور باندی په حقیقی ډول وپیژندلی شیء

او نه تاسو ته هغه آواز در کولی شی چه د هغه آواز په ذریعه دده نغمی په فضا کښې پورته کیږی او خپریږی .

او هم دغه راز د ریاضی په علم پوه تاسو ته د وزن او پیمانی اصول او قواعد درښودلی شی مګر هغه د وزن او پیمانې په وسعت کښې د ننه تاسو د خپل ځان سره نشی بیولی .

ننگرهار

تقریظ

ښه ډېر عمر کیږی چه په پورته نامه د جلال کوټ له مرکز نه یوه ثقافتی مجله خپریږی چه د ننګرهار د لیکوالو قریحه هرچا ته ښکاره ددې مجلې اومه ګڼه هم د نور و ګڼو په شان د کابل مجلې دائرې ته راورسېده خود مجلې رنګ بېل و یعنی هم په صحافتی لحاظ اوهم په معنوی لحاظ ښه شوی و ه چه د ابداون د دې مجلې د نوی مدیر ښاغلی عبدالله بختانی په پاملرنه شوی و ـ ښاغلی عبدالله بختانی به ډېر لږ کسان نه پېژنی ځکه دی د وطن د ځوانی طقې ښه لایق اوزحمت کښ لیکوال دی ـ د د ه سره ښه تمیز ـ ښه پاملرنه ښه زحمت کشی شته چه په همدې وجه د د ه د همدې نوی عهدې په ورکولو دامجله مونږته د همدې مجلې د ښه والی او په هیله پیدا کوی مونږته د ښاغلی بختانی او د د ه ښه ذوق له ډېر پخوانه رامعلوم دی او خپله دا د ښه والی هیله بوه تشه هیله نه بولو نو ځکه وښاغلی بختانی ته تبریک وایو او توفیق ورته غواړو (اداره)

دپښتو ټولنی دتیر کال خپرونی

۱: لوړ خیالو نه اوژور فکرونه

۲: داور لمبي

۳: پښتانه داقبال په نظر کښی

٤: منطق

٥: افغان قاموس

٦: پښتو نثرونه

۷: پریشانه افکار:

۸: نړۍ په دوه زرم کال کښی

۹: افغان قاموس دوهم ټوک

۱۰: دحنان دیوان

نوی چاپ شوی کتاب

۱: پښتنی دودونه

کابل مجله

تاسی کولای شیء چه په کابل کښي په (٤٠) افغانۍ په دننه هیواد کښی په (٤٤) افغانۍ په هند کښي په (۱۲) کلداری په نورو دباندنیو هیوادونو کښی په (۳) دالره لاس ته راولیء

دښوونځیو زده کونکو ته په نیمه بیه.

دیوه کال داشتراك دپاره په کابل کښي همدغه بیه دپښتو ټولنی دمحاسبي مدیریت ته او په ولایاتو کښي دهمدی مؤسسی دجاری شمېر (په ۷۸۷٥) لمبر افغانستان بانك ته سپاړل کېږی

دولتی مطبعه